Social Sceince
AcademicJournal

لید د پوهنتون علومو علمي مجله
LSSAJ

# په اسلام کې د ښوونکي (استاذ) اخلاقي او سلوکي صفات

عبدالرحمن اڅکزی[1*]، پوهنيار عبدالرحمن سعيد[2]
حقوق څانګه، حقوق او سیاسي علوم پوهنځی، ملالی لوړو زده کړو مؤسسه
مسؤل ایمیل ادرس: lawyerabdullrahman@gmail.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۴/۰۲/۰۳ منل سوې: ۱۴۰۴/۰۴/۰۱ خپره سوې: ۱۴۰۴/۰٦/۳۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-2-1-08 مخونه (۹۱-۱۲۷)

## لنډیز

ښوونه او روزنه د انسان جوړوني او بنسټیزو موخو ته د رسیدني مهم ترینه وسیله ده. که انسان ته ښوونه و نه سي او یا و نه روزل سي، نو په هیڅ صورت به هغو موخو ته و نه رسیږي، د کومو لپاره چي پیدا سوی دئ او د حیواناتو په څېر به یوازي غریزیي پاته سي. ښوونکی د ټولني له افرادو څخه یو فرد دئ چي د هڅو پر بنسټ یې په ټولنه کي د ناپوهي ځاي پوهه، د تیارو ځای رڼا، د تعصب او دښمني ځای عدالت، مساوات او ورورګلوي نیسي او بالاخره یوه سالمه او پر مختللي ټولنه تشکیلوي. څکه نو د اسلام مبارك دين ښوونکي ته خوا لوړ مقام او ارزښت ورکړی دئ. دا یوه کتابتوني څېړنه ده چي د توصیفي او تحلیلي مېتود پر بنسټ ترسره سوي ده. د دې څېړنيزي مقالي موخي دا دي چي د اسلام له نظره د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفات وپېژندل سي او د قرآن کريم او نبوي احادیثو په رڼا کي د ښوونکي مقام او مسؤلیت واضح سي، چي یادو موخو ته رسېدلي یو. او په پایله کي یې هغه اخلاقي او سلوکي صفات چي د اسلام مبارك دين د ښوونکي (استاذ) لپاره پيش بيني کړي او ښوونکی یې د هغو په خپلولو او عملي کولو مکلف بلل دی واضح سوي دي. لکه: علميت، تخصص، اخلاص، عاجزي، تقوی اوپرهېزګاري، صداقت/ رښتینولي او پر ژمنه، ترحم او شفقت، شجاعت او حياء، په نيکيو امر او له بديو منع، مسؤليت پذيري، امانتداري او د اسرارو ساتنه، عدالت، انصاف او له هر ډول تبعيض څخه ډډه، استقامت، حوصله، صبر او تلوار نه کول، متقابل درناوی، پاکي، نرمښت او د خپل مسلك حرمت ساتل، حلم، زغم او له غصي څخه پرهيز، نظم او كاري انظباط، د ټولني په عامه پوهاوي کي ونډه اخيستل، له کړنو سره د خبرو تطابق، له بدو او پوچو الفاظو څخه ډډه کول، له زده کوونکو سره وخت پر وخت خوش طبيعتي کول، تر خبرو او وينا وړاندي په کړنه او عمل تعليم ورکول، په ښوونه کي د دوستي د لهجې کارول او په ښوونه کي د اسانی مراعتول او داسي نور چي يو مسلمان ښوونکی یې باید په ځان کي پيدا او د ښووني او روزني په دوران کي يې عملي کړي، ترڅو له يوه لوري يې د خپل رسالت يې په صحيح شكل ترسره کړی وي.

**کلیدي کلمې:** اسلام، اخلاق، سلوك، ښوونکی (استاذ)، صفات.

## سريزه

د قرآن کريم لومړنی پيغام چې بشريت ته يې راوړ زده کړه او علم وو . الله ﷻ فرمايي: "اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ... ".﴿العلق: ١-٥﴾ ژباړه: أی رسول ﷺ! و وايه د خپل رب ﷻ په نوم چې هغه ټول مخلوقات پيدا کړي دي. د کلکي سويويني له يوې ټوټې څخه يې انسان هست کړ، ولوله، او ستا رب ﷻ ډېر مهربان دئ، چې هغه د قلم په مرسته انسان ته علم وښودئ، انسان ته يې هغه علم ورکړ چې هغه پرې نه پوهېدئ.

د اسلام د مبارک دين له نظره علم او پوهه يوازي د معلوماتو راټولول او ډېرول نه دي، او نه هم يوازي دا په خپل ځان کي کوم کمال دئ؛ بلکي د علم کمال او فضيلت هغه وخت څرګندېږي چي مثمر او ګټور وي. عن زيد بن الارقم رضی الله عنه قال رسول الله ﷺ: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِن عِلْمٍ لا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لا يُسْتَجَابُ لَهَا". (صحيح مسلم، ۲۷۲۲ حديث) ژباړه: ائ الله ﷻ زه له هغه علم څخه چي ګټه نـه رسـوي، له هغې دعـاء څخه چي نه قبليږي، له هغه زړه څخه چي عاجزي پکښي نه وي او له هغه نفس څخه چي نه مړيږي، په تا سره پناه غواړم. له همدې امله مسلمان ته اړينه ده چي يوازي هغه علم لاسته راوړي او نورو ته يې ور وښيي، کوم چي ګټور وي او هم د علم د لاسته راوړلو او نورو ته د ورښودلو پر مهال يوازي او يوازي د الله ﷻ رضاء خپله موخه وګرځوي. رسول الله ﷺ فرمايي: "مَنْ تَعَلَّمَ عِلْمًا مِمَّا يُبْتَغَى بِهِ وَجْهُ اللَّهِ، لَا يَتَعَلَّمُهُ إِلَّا لِيُصِيبَ بِهِ عَرَضًا مِنَ الدُّنْيَا، لَمْ يَجِدْ عَرْفَ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".(سنن ابن ماجه، ۲۵۲ حديث) ژباړه: څوک چي هغه علم زده کړي، په کوم چي د الله ﷻ رضا ترلاسه کيږي، خو د ده موخه دا وي چي کومه دُنيوي برخه (مال او منصب) لاسته په راوړي، نو دغه کس ته به د قيامت په ورځ د جنت بوی هم و نه رسيږي.

د اسلام مبارک دين ښوونکي ته خورا لوړ مقام او ارزښت ورکړی دئ. رسول الله ﷺ فرمايي: "انما بعثت معلماً". (سنن ابن ماجه، ۲۲۹ حديث) ژباړه: زه د يو معلم/ ښوونکي په توګه مبعوث سوی يم. ښوونکی د ټولني له افرادو څخه يو فرد دئ چي د هغو پر بنسټ يې په ټولنه کي د ناپوهي ځاي پوهه، د تيارو ځای رڼا، د تعصب او دښمني ځای عدالت، مساوات او وروګلوي نيسي او بالاخره يوه سالمه او پرمختللې ټولنه تشکيليږي. خو دا هرڅه هغه وخت کيدای سي چي

ښوونکی د اسلام د مبارک دین په چوکاټ کې مندرج صفات په ځان کې پیدا او عملي کړي. د ښوونکي صفات ډېره مهمه موضوع ده چې ورته د نه پاملرنې او نه رعایت په صورت کې یې ښوونیز نظام مختلیږي، د علم ځای جهالت او ناپوهي نیسي او ټولنه له فساد، ناخوالو، حق تلفۍ او رکود سره مخ کیږي. څکه نو اسلام د مبارک دین د یادي موضوع اړوند بشپړ، واضح او خورا منطقي احکام پیش بیني کړي دي. باید یادونه وکړو چې دا یو منل سوی حقیقت دئ چې اسلام د نورو ټولو آدیانو او بشري مکاتبو په پرتله د علم پر ښوولو او ترلاسه کولو ډېر ټینګار کړی دئ، خو د ښووني او روزني د مقدسي دندي ترسره کوونکي لپاره یې ځیني اخلاقي او سلوکي صفات هم پیش بیني کړي او ښوونکي او علماء یې مکلف کړي دي چې خپل ځانونه په یادو اخلاقي او سلوکي صفاتو سمبال کړي او یاد مسؤلیت په سم شکل سرته ورسوي.

### د څېړني ارزښت

د قرآن کریم په رڼا کې پوهه یوازي د شخصي پرمختګ لپاره نه ده، بلکه د ټولني د فلاح، عدالت، او وروروګلوي د رامنځ ته کولو لپاره هم اړینه ګڼل سوې ده. د اسلام مبارک دین د ښوونکي لپاره اخلاقي او سلوکي صفات پیش بیني کړي، چې دا صفات د ښوونکي له لاري د ټولني په جوړښت او اخلاقو باندي مستقیم اثر لري. د دې څېړني اهمیت له څو اړخونو څخه څرګندیږي: یو داچې رسول الله ﷺ فرمايي: "انما بعثت معلماً".(سنن ابن ماجه، ۲۲۹ حدیث) ژباړه: زه د یو معلم/ ښوونکي په توګه مبعوث سوی یم. چې په دې سره د ښوونکي اهمیت په ټولنه کې څرګندیږي، چې ښوونکی د علمي او اخلاقي ارزښتونو له لاري د ټولني په جوړښت کې د مثبتو بدلونونو عامل ګرځي او د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفات د ټولني د فرهنګ، عدالت او پراختیا لپاره حیاتي ګڼل کیږي. همداراز،

د قرآن کریم لومړۍ وحی د "اقْرَأْ" په کلمه سره پیل سوه چې د علم او زده کړي لپاره د پیل نښه ده. نو اسلام علم نه یوازي د شخصي پرمختګ لپاره نه، بلکي د ټولني د عمومي ښه والي لپاره اړین ګڼي. په دې اساس، د ښوونکي اخلاق او سلوک باید د علم د ګټي ترلاسه کولو لپاره په سم ډول تنظیم سي. څکه د ښوونکي د اخلاقي او سلوکي صفاتو په تطبیق سره نه یوازي زده کوونکي، بلکي ټولنه هم متأثره کیږي، نو که ښوونکي خپلي دندي په سمه توګه ترسره نه کړي او د اسلامي اصولو سره سم اخلاق او سلوک ونه ساتي، نو ټولنه به له فساد، ناپوهۍ او بې عدالتیو سره مخ سي. د اسلام

مبارک دین د ښوونکي لپاره یوازي د علمي وړتیاوو نه، بلکي د اخلاقي او سلوکي معیارونو درلودل او رعایتول هم اړین ګڼي، ځکه د دې معیارونو رعایتول نه یوازي د ښوونکي د دیني، علمي او اخلاقي اړخونو بشپړتیا ته لار هواروي، بلکه د ټولني ټولو افرادو ته هم د ښووني او روزني په اړه واضح لوری ورکوي.

په هر صورت؛ د ښوونکي(استاذ) اخلاقي او سلوکي صفات یوه مهمه او حساسه مسئله ده ورته د نه پاملرني او نه رعایت په صورت کي یې ښوونیز نظام مختلیږي، اخلاقي اصول تر پښو لاندي کیږي او پر ښوونه او روزنه، ښوونکي او علماؤو د ټولني باور له منځه ځي او د علم خپراوی چي د اسلام اساسي موخه ده نه سي ترلاسه کیدای. ځکه نو د اسلام مبارک دین د یادي موضوع اړوند واضح او بشپړ احکام پیش بیني کړي او د ښوونکي(استاذ) د اخلاقي او سلوکي صفاتو اړوند یې خورا منطقي احکام پیش بیني کړي دي.

### د څېړني ستونزه

په اسلام کي د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفاتو په هکله په ټولنه کي د عامه پوهاوي نه شتون، په پښتو ژبه کي په دې عنوان د کمو معلوماتو شتون، د دیني علماؤو، ښوونکو او علمي بنسټونو له لوري په یاده برخه کي د مسؤلیت بشپړ نه ترسراوی او داسي نوري هغه ستونزي دي چي دا اړتیا رامنځ ته کوي، تر څو په دې برخه کي څېړنه وسي او په اسلام کي د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفاتو اړوند له بېلا بېلو مؤثقو او معتبرو سرچینو څخه صریح احکام او معلومات راټول او د یوې علمي څېړنیزي مقالې په شکل ټولني ته وړاندي سي.

### د څېړني موخي

۱- د اسلام له نظره د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفات پېژندل او واضح کول.

۲- د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کي د ښوونکي مقام او مسؤلیت واضح کول.

### د څېړني پوښتني

۱- اسلام د ښوونکي لپاره کومي اخلاقي او سلوکي صفات اړیني ګڼي؟

۲- د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کي د ښوونکي رول او مقام څه دئ؟

## مواد او کړنلاره

د دې لپاره چې د څېړنې ترسره کولو په پار کافي اړین اړوند معلومات ترلاسه سي، نو تر ډېره بریده هڅه سوې ده چې په اسلام کې د ښوونکي اخلاقي او سلوکي صفاتو په هکله اسلامي سرچینې وپلټل سي. بناءً، دا یوه کتابتوني څېړنه ده چې د توصیفي او تحلیلي مېتود پر بنسټ ترسره سوې ده، چې پکښې له قرآن کریم، نبوي احادیثو، قوانینو، معتبرو کتابونو او مقالو څخه معلومات راټول سوي دي. د یادي لیکنې په متن کې مأخذونه د (APA) پر سټایل ترتیب سوي او په پای کې د کارول سویو مأخذونو عمومي لیست راوړل سوی دئ. دغه علمي او څېړنیز مقاله په بشپړ اخلاص، رښتینولي، د علمي امانتدارۍ په رعایت او ټولو اسلامي او عرفي ارزښتونو ته په احترام لیکل سوې ده.

## په اسلام کې د ښوونکي(استاذ) اخلاقي او سلوکي صفات

تر دې عنوان لاندې به لومړی ښوونې او روزنې ته د قرآن کریم او نبوي سنتو هڅونه او بیا رسول الله ﷺ د ښوونکي په حیث او بیا به په اسلام کې د ښوونکي (استاذ) اخلاقي او سلوکي صفات تر بحث او مطالعې لاندې ونیسو.

### الف: په اسلام کې د ښوونې او روزنې ارزښت

ښوونه او روزنه د انسان جوړوني او بنسټیزو موخو ته د هغه د رسېدو مهم ترینه وسیله ده. که انسان ته ښوونه و نه سي او یا و نه روزل سي، نو پر هغو صفاتو چې د یو انسان لپاره اړیني دي لکه: کرامت، درناوی، شجاعت، دوستي، عدالت، عفوه، مرسته او داسي نورو نه لرلو برسېره به یې نور اعمال او کړه وړه هم د حیواناتو په څېر ابتدایي او غریزیي پاته سي. په هر صورت؛ په دې څېرکي کې به لومړی ښوونې او روزنې ته د قرآن کریم او نبوي سنتو هڅونه او بیا رسول الله ﷺ د ښوونکي په حیث تر بحث او مطالعې لاندې ونیسو.

#### ۱: ښوونې او روزنې ته د قران کریم او نبوي سنتو هڅونه

قرآن کریم په ګڼو ځایونو کې بشریت د علم په لور هڅولی او په مقابل کې یې جهالت او ناپوهي غندلې ده. الله ﷻ فرمایي: "قُلْ هَلْ يَسْتَوِي الَّذِينَ يَعْلَمُونَ وَالَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ .." .﴿الزمر: ۹﴾

ژباړه: ووایه ای محمد ﷺ! ایا سره برابر دي هغه کسان چې پوهیږي او هغه چې نه پوهیږي؟

(بلکي هيڅ کله سره برابر نه دي). همدا راز، الله ﷻ د علم او پوهي د ليکلو ارزښت داسي بيانوي: "لَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ". ﴿العلق: ٤﴾ ژباړه: هغه (رب پالونکی) چي ښوولی يې دی (خط انسان ته) په قلم سره. علماء کرام وايي: دلته له قلم څخه موخه کتابت او د ليکلو علم دئ او بيا د دغه علم د ګټو په اړه زياتوي: په ليکلو کي له اندازې ډېري ګټي پرتې دي چي له الله ﷻ څخه پرته څوک نه په پوهيږي، په قلم او ليکلو علوم ساتل کيږي، حکم او فيصلې به ثبتيږي، د پخوانيو اُمتونو اخبار او حکايتونه راتلونکو ته انتقاليږي او که دا نه وای، نو د دين او دنيا چارې به له ډېرو ستونزو سره مخ سوي وای.(ظهير، ۱۴۰۱ل. ۲۳ – ۲۴ مخونه) همدا راز، د قرآن پر استشهاد يوازي علماء د معرفت او تجربې خاوندان دي او همدوی د ښه فهم، نيکي لارښووني، مشورې او فتوی خاوندان دي. الله ﷻ فرمايي: "وَتِلْكَ الْأَمْثَالُ نَضْرِبُهَا لِلنَّاسِ وَمَا يَعْقِلُهَا إِلَّا الْعَالِمُونَ".﴿العنکبوت: ٤٣﴾. ژباړه: او دغه مذکوره مثالونه په قرآن کريم کي مورږ بيانوو د خلکو لپاره او نه پوهيږي پر دغو(مثالونو) مګر هغه چي پوهيږي.

له دغو ټولو مبارکو لارښوونو څخه معلوميږي چي قرآن کريم د خالق او څښتن په پېژندنه کي يوازي پر فطرت اعتماد نه کوي؛ بلکي تر ټولو وړاندي په انساني نفسونو کي يو ډول شوق راټوکوي او په مسلسل ډول دوی پوهني ته هڅوي، ځيني وخت دوی ته له اسمانونو او د هغه له دقيق نظام، کله بيا د شپې او ورځي له منظم بدلون او کله هم دوی ته د نړۍ له اسرارو څخه پرده پورته کوي، ترڅو عقل ته دا مجال او خبره پاتي نه سي، چي ووايي: دا ټول هسي تصادف او اتفاق و، يا دا دعوه راپورته کړي چي د دې ترشا کومه دقيقه اراده اوعلم شتون نه لري؛ بلکي دغه ټولي پديدې د دې پر خلاف، انسانيت دې ته هڅوي چي دا اواز پورته کړي چي دغه ټول کارونه د يوې قوي ارادې، پوهي او حکمت زيږنده دي او د همدې صفاتو څښتن يوازي د عبادت او الوهيت مستحق دئ.

قرآن کريم د علم د اهميت ښودلو لپاره پر اُمي پيغمبر چي نه يې ليک زده و، نه هم لوست، خپل لومړني اېتونه د علم او پوهي له پيغام سره نازل کړي. الله ﷻ فرمايي: "اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ، خَلَقَ الْإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ، اقْرَأْ وَرَبُّكَ الْأَكْرَمُ، الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ، عَلَّمَ الْإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ".﴿العلق: ١-٥﴾ ژباړه: ولوله (ای محمده! قرآن) په برکت د نامه د رب خپل، هغه رب پالونکی چي پيدا کړي يې دي (ټول مخلوقات)، پيدا کړی يې دی انسان له ټوټو د ټرلیو سویو وینو څخه. ولوله (أی محمده

ﷺ ! قـرآن) حال دا چي رب ستـا لـوی کـریم دئ، هغه چي ښوولی يې دئ (خط انسان ته) په قلم سره او انسان ته يې هغه څه ور وښودل چي پري نه پوهېده.
له دغو مبارکو آيتونو څخه دا معلومېږي، چي الله ﷻ هغه چاته چي نه يې ليک زده و او نه يې لوست، د تعليم او ويلو امر کوي. يوازيې هغه د ټولو مخلوقاتو خالق او پر دې قادر دی، چي په نا لوستي انسان څه ووايي، هغه ذات چي ژوندی او ناطق انسان يې له يوې څاځکي وينې څخه پيدا کړ، چي په هغې وينه کي نه عقل و، نه هم نطق او بيا يې په دغه انسان کي د ليک او لوست استعداد پيدا کړ. همداسي په دې آيت کي له لوستلو څخه وروسته چي د تعليم اساس ګڼل کيږي، پـه قلـم او ليکلو ټينګارسوی، چي دا په خپله د تحرير او ليکلو ارزښت رامخي ته کوي. که ليک نه وای، نـو انسـان بـه هيڅکله دغه درجې ته رسيدلي نه وای.(ظهير، ۱۴۰۱ل. ۵۴ – ۶۳ مخونه).
پر قرآن کريم برسېره د رسول الله ﷺ مبارک سنت هم په پوره تفصيل او صراحت سره د علم فضل او ښېګڼه بيانوي. د رسول الله ﷺ په مبارکو سنتو کي چي د علـم کـوم درښت او تقدير څرګند سوی، ښايي په هېڅ قانون او تمدن کي نه وي په ډاګـه سوی؛ ځکـه رسـول الله ﷺ د دې درښت له مخي غواړي چي د علم د ميانو په زړونو کي پر دغه لاره د قـدم اخيستو اعتماد لا پياوړی او ترخنګ يې په دوی کي نوې جذبه او حماسه را وپاروي، ترڅو هغه مقام او پاړکي ته ورسيږي چي الله ﷻ د دغه فريضې د ترسره کونکو لپاره ټاکلی دئ. د علم د فضيلت په هکله معاوية رضي الله عنه روايت کوي چي ما له رسول الله ﷺ څخه اورېدلي دي چي و يې فرمايل: "مَنْ يُرِدِ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ".(صحيح البخاري، ۷۱ حديث) ژباړه: چاته چي الله ﷻ د خير اراده وکړي، هغه ته په دين کي پوه ورکړي. همداراز، بل ځای رسول الله ﷺ فرمايي: "من سَلَكَ طَرِيقًا يَبْتَغِي فِيهِ عِلْمًا سهَّل اللَّه لَه طَرِيقًا إِلَى الجنة، وَإِنَّ الملائِكَةَ لَتَضعُ أَجْنِحَتهَا لِطالب الْعِلْمِ رِضًا بِما يَصنَعُ، وَإِنَّ الْعالِم لَيَسْتَغْفِرُ لَهُ منْ في السَّمَواتِ ومنْ فِي الأَرْضِ حتَّى الحِيتانُ في الماءِ، وفَضْلُ الْعَالِمِ عَلَى الْعابِدِ كَفَضْلِ الْقَمرِ عَلَى سَائِرِ الْكَواكِبِ، وإِنَّ الْعُلَماءَ وَرَثَةُ الأَنْبِياءِ وإِنَّ الأَنْبِياءَ لَمْ يُورِّثُوا دِينَارًا وَلا دِرْهَمًا وإِنَّما ورَّثُوا الْعِلْمَ، فَمنْ أَخَذَهُ أَخَذَ بِحظٍّ وَافِرٍ".(سنن ابن ماجه، ۲۲۳ حديث) ژباړه: چا چي يوه لاره ونيوله چي د هغي له مخي علم او پوهـه لټـوي، نو الله ﷻ به يې د جنت پر لاره روان کړي، ملائکي خپل وزرونه د علم غوښتونکي د خوښۍ لپاره غوړوي او د عالم لپاره د اسمانونو او ځمکي اوسېدونکي مغفرت غواړي، آن ماهيان د دريابونو منځ کي او د عالم فضل او ښېګڼه پـر عابـد انسـان داسې ده، لکه د

پنځلسمي سپوږمۍ چې پر نورو ستورو رڼه او تېزه وي، علماء د انبیاوو وارثان دي او انبیاؤو دینار او درهم په میراث نه دي پرې اېښي؛ بلکې له دوی څخه علم پاته دئ او هر چا چې په څومره مقدار ترې راونیو، هغومره نیولای سي.

**۲: رسول الله ﷺ ښوونکی وو**

له شک پرته پیغمبران د الله جل جلاله هغه سپیڅلي استازي دي، چې د بشریت د لارښوونې او هدایت لپاره رالیږل سوي دي، ترڅو انسانان د دنیا او آخرت د کامیابۍ په لور رهنمایي کړي؛ مګر دغه هدف ته رسېدل له علم او پوهې پرته ناشونی دئ. له همدې امله د دغو سپڅیلو انسانانو یوه دنده او مسؤلیت هم د اُمت تعلیم او تربیه ده.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۹ مخ) یعني؛ پیغمبران د دې لپاره مبعوث سوي دي، ترڅو په انسانانو کې د علم او پوهې شته او پراته استعدادونه چې له پخوا څخه یې په طبیعت کې اېښودل سوي، صیقل او بیا یې لوړ کړي، ترڅو واقعي کمال ته ورسیږي. له بل لوري دوی ته هغه څه وښیي چې د هدایت او سعادت لامل ګرځي او د مکلفیت او مسؤولیت په حیث یې زده کول پردوی لازم سوي دي. د قرآن کریم په مصداق کومو کسانو چې اسلام قبول کړی او په اسلام کې داخل سوي دي، هغوی ته د رسول الله ﷺ حیثیت یوازې د پیغام رسوونکي په حیث نه دئ؛ بلکې رسول، ښوونکی، روزونکی او هغه نمونه ده، چې په هره زمانه کې د هغه پیروی او اطاعت لازم دئ.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۲۰ مخ) الله جل جلاله فرمائي: "لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ..." . ﴿الأحزاب: ۲۱﴾ ژباړه: بې شکه چې تاسې ته د الله په پیغمبر کې یوه ښه نمونه ده.

رسول الله ﷺ دنده یوازې د الهي پیغام رسول دي، ولې له دوی څخه دا خبره پټه پاته ده چې د تبلیغ وظیفه یوازې د هغو کسانو لپاره ده چې د اسلام په دایره کې تر اوسه داخل سوي نه دي؛ مګر کومو کسانو چې د رسول الله ﷺ پیغام قبول کړی او د اسلامي امت په چوکاټ کې داخل سوي دي، د هغو لپاره بیا رسول الله ﷺ یوازې د مبلغ حیثیت نه لري؛ بلکې د ښوونکي، روزونکي، بیلګي، قاضي، رهبر او ټولو کړنو مرجع ګڼل کیږي او د ژوند په هره برخه کې یې پیروي پر دوی لازمه ده. الله جل جلاله فرمایي: "رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيهِمْ إِنَّكَ أَنتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ". ﴿البقرة: ۱۲۹﴾ ژباړه: ای ربه زموږ! پیدا کړه (ولیږه) په دوی کې یو رسول له دوی څخه؛ چې دی لولي پر دوی باندې آیتونه ستا (چې د توحید او نبوت دلایل دي)، وښیې دوی ته او پاک کړي دوی (له ګناهونو)، بېشکه ته همدا ښه غالب د حکمت خاوند یې.

د نبوي سنتو په مصداق رسول الله ﷺ د بشريت ښوونکی و، هغه د امت د ښووني او روزني لپاره را لیږل سوی و. دا په خپله د دې ستري دندي اهمیت څرګندوي. له عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما څخه روایت دئ چي رسول الله ﷺ یوه ورځ له خپلي حجرې څخه راووت او مسجد ته یې تشریف راوړ. هلته دوه حلقې وې؛ په یوه کي قرآن کریم لوستل کیده او په بل کي نورو ته د قرآن کریم زده کړه او ښوونه ور کول کیده؛ نو رسول الله ﷺ وفرمایل: "كلٌّ على خيرٍ، هؤلاءِ يقرؤون القرآنَ ويَدْعُونَ اللهَ، فإن شاء أعطاهم، وإن شاء منعهم، وهؤلاء يتعلمون ويُعلّمُونَ، وإنما بُعِثْتُ مُعلِّمًا".(سنن ابن ماجه، ۲۲۹ حديث) ژباړه: دواړه ډلي په خیر او بهترۍ کي دي: دوی قرآن تلاوت کوي او له الله ﷻ څخه دعا غواړي، که د الله ﷻ خوښه او اراده سي، نو څه به ورکړي او یا به یې ترې وسپموي، او دوی زده کړه ترسره کوي او نورو ته یې ښیي. په تحقیق سره زه ښوونکی رالیږل سوی یم او بیا له هغوی سره کښیناست.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۲۲ – ۳۲ مخونه) له دې مبارك حدیث څخه د علماوو فضیلت او علم ته هڅونه څرګندیږي، ځکه رسول الله ﷺ د علم په حلقه کي کیناست.(أبو غدة، ۱۴۲۹ق. ۸۵ مخ).

### ب: په اسلام کي د ښوونکي(استاذ) اخلاقي او سلوکي صفات

د دې لپاره چي ښوونکی په واقعي ډول خپل دغه ستر او درونډ مسؤلیت په سم شکل اداء کړي، د خپل لاس نهالان په سم شکل وروزي او په ټولنه کي خپل رول په مثبت شکل ترسره کړي، نو د اسلام د مبارك دین له نظره باید ځیني نیک او صفات خپل کړي.

### ۱- علمیت او تخصص

الله ﷻ فرمایي: "وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا"﴿الإسراء: ۳۶﴾ ژباړه: د هغه شي په باره کي سکوت اختیار کړه چي په هکله یې معلومات نه لري، ځکه غوږونه، سترګي او زړونه ټول مسؤل او پوښتل کیږي. د استاذی دنده په حقیقت کي له ښوونکي سره یو امانت او د ده پر ذمه یو ډول پور دئ چي په سم ډول اداء کول یې واجب دي. په یو حدیث شریف کي راځي: "عَنْ أَبِى ذَرٍّ رَضِىَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ اسْتَعْمِلْنِى قَالَ فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِى ثُمَّ قَالَ: يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْىٌ وَنَدَامَةٌ إِلاَّ مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِى عَلَيْهِ فِيهَا".(صحیح مسلم، ۱۸۲۵ حدیث) ژباړه: له ابي ذر رضی الله عنه څخه روایت دئ

چې ما و رسول الله ﷺ ته و ویل: ائ د الله رسول ﷺ! ما استعمال کړه (یعني یوه دنده را وسپاره!)، نو رسول الله ﷺ زه پر اوږه و وهلم او بیا یې را ته و فرمایل: ائ اباذره! ته ضعیف یې، دا یو امانت دئ چې د قیامت په ورځ د شرمنده ګۍ او پښېمانتیا لامل ګرځي، خو نه د هغه چا لپاره چې د دندي حق یې په سم ډول اداء کړی وي. همدا لامل دئ چې د اسلام مبارک دین او د افغانستان نافذه قوانینو دغي مقدسي دندي ته د ګمارني په موخه له مدرسې، ښوونځی او آن له پوهنتون څخه فراغت او د ځینو وړتیاوو لرل اړین ګڼلي دي. بناءً، د ښه او مؤثره تدریس لپاره تخصص او علمیت اړین دي، هغه څوک چې د استاذۍ سپېڅلې دنده را پیلوي، باید چې لازمه پوهه او تجربه ولري. د ښوونکی لپاره اړینه ده چې پر خپل مضمون او درس ورکولو بشپړ حاکم او بررلاسی و اوسي.(شاکري، ـــــــ. ۱۵ مخ).

**۲- اخلاص/ نېک نیت**

نېک نیت او اخلاص دې ته وایي چې یو څوک یوازي –یوازي د الله ﷻ د رضاء په خاطر یو کار ترسره کړي او بل د هیچا رضاء خپله موخه و نه ګرځوي. الله ﷻ فرمایي: "لَن يَنَالَ اللَّهَ لُحُومُهَا وَلَا دِمَاؤُهَا وَلَٰكِن يَنَالُهُ التَّقْوَىٰ مِنكُمْ ..." .﴿الحج: ۳۷﴾ ژباړه: د هغوی غوښې او ویني الله ﷻ ته نه رسیږي، بلکې الله ﷻ ته ستاسي نیت او تقوی رسیږي. په یو حدیث شریف کې راځي: عن أبي أمامة الباهلي رضي الله عنه یقول الرسول ﷺ: "إنَّ اللهَ لا يقبلُ من العملِ إلَّا ما كان خالصًا وابتُغي به وجهُه".(نسائي، ۳۱۴۰ حدیث) ژباړه: أبي أمامة الباهلي رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: الله ﷻ هیڅ یو عمل نه قبلوي، مګر هغه چې خالص او یوازي د الله ﷻ د رضاء په خاطر ترسره سي.(صدیقي، ۱۳۹۵ل. ۷۶ مخ) نېک نیت او اخلاص د اسلام په مبارک دین کې خورا ستر ارزښت لري، ځکه نیت د انساني اعمالو د توپیر تله ده چې عبادت له عادت څخه بېلوي.( فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۴۸ – ۴۹ مخونه) عَنِ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى ..." .(صحیح البخاري، ۶۵۵۳ حدیث) ژباړه: له عمر بن خطاب رضی الله عنه څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د ټولو عملونو قبلېدل په نیت پوري اړه لري، انسان ته د ده د نیت بدله ورکول کیږي.(فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۴۹ مخ) همداراز، یوه فقهي قاعده داسي صراحت لري: "الْأُمُورُ بِمَقَاصِدِهَا". ژباړه: کارونه د هغوی په مقاصدو پوري اړوند دي.(ژوبل، ۱۴۰۰ل. ۱۱ مخ، ۲ ماده)

اخلاص او د نیت سموالی د ټولو انبیاؤو علیهم السلام وه صفت وو، چې د ښوونکو او زده کوونکو لپاره مهم ګڼل کیږي. دا په دې معنی چې دغه کسان باید تر ټولو وړاندې د خپل نیت او مقصد د پاکۍ او اخلاص لپاره هڅه وکړي او هیڅ کله یې باید د علم له زده کړې او ښوونې څخه موخه ځان پر نورو لوړ ګڼل نه وي.(القشيري، ــــــــ، ۲ ج، ۳۵۹ مخ) امام جنید بغدادي رحمه الله وايي: اخلاص د الله ﷻ او بنده ترمنځ یو راز دئ چې ملائکې پرې خبرې نه دي او نه هم شیطان په پوهیږي.(صالح او نور، ــــــ، ۲ ج، ۱۳۹مخ)

رسول الله ﷺ همیشه ښوونکو ته د دې ښوونه کوې چې د علم موخه یوازې د الله ﷻ رضا او خوښه وګرځوي او که څوک علم د بل مقصد لپاره حاصل کړي، نو دا یو ستر ناورین دئ چې رسول الله ﷺ د خپل امت پوهان ځنې بېرولي دي. رسول الله ﷺ فرمايي: "من تعلم علما لغير الله أو أراد به غير الله فليتبوأ مقعده من النار".(الترمذي، ۲۶۵۵ حديث) ژباړه: څوک چې علم د الله له رضا او خوښۍ پرته د بل څه لپاره زده کړي، یا یې موخه د الله تعالی له رضاء پرته بل څه وي، نو د هغه ځای جهنم دئ.

له همدې امله پر نېک، داعي او خیر غوښتونکي ښوونکي لازمه ده چې تدریس یوازې د الله ﷻ د رضایت وسیله وګرځوي؛ دا که شرعي علوم وي یا عصري علوم، خو نیت به یې دا وي چې دا علوم د نن عصر اړتیا ده او په دې سره د اسلامي امت عصري ستونزې حلیږي او د پردیو له احتیاج څخه خلاصیږي او زده کوونکو ته په نېکې اسلامي تربیې، په نیکيو امر او له بدو څخه منع کولو، نصیحت، اصلاح او تأدیب کې یې باید نیت یوازې - یوازې د الله ﷻ رضا وي نه ریا او نه هم ځان ښودنه او نه په دې نیت چې خلک زما صفت وکړي. نو کله چې ښوونکی خپل نیت یوازې الله ﷻ لره خاص کړ، نو د الله ﷻ په وړاندې به صالح او مقبول بنده جوړ سي او هم به یې الله ﷻ د خلکو او زده کوونکو په زړونو کې محبوب او مقبول وګرځوي. په یو حدیث شریف کې راځي: ان رسول الله ﷺ قال: "إذا أحبَّ اللّٰه عَبْدًا دَعا جبْرِيلَ فقالَ: إنّي أُحبُّ فُلانًا فأحِبَّهُ، قالَ: فَيُحِبُّهُ جبْرِيلُ، ثُمَّ يُنادِي في السَّماءِ فيَقولُ: إنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلانًا فأحِبُّوهُ، فيُحِبُّهُ أهْلُ السَّماءِ، قالَ ثُمَّ يُوضَعُ له القَبُولُ في الأرْضِ".(صحيح مسلم، ۲۶۳۷ حدیث) ژباړه: کله چې الله ﷻ ته کوم بنده خوښ وي نو جبرائیل علیه السلام ته آواز کوي چې فلانی بنده الله ته خوښ دی ته هم هغه خوښ کړه نو جبرائیل علیه السلام هغه خوښ کړي او د آسمان اهل ته آواز وکړي چې فلانی بنده الله ﷻ ته خوښ دی نو

تاسي هم هغه خوښ کړئ، نو د آسمان اهل هم هغه خپل دوست او خوښ جوړ کړي بیا په همدې توګه د ځمکي د اهل هم خوښ او مقبول سي.(شاکري، ـــــــ. ۵ مخ) البته، باید یادونه وکړو چي زموږ په ټولنه کي زده کوونکي، محصلان او طلباء خپلي خوښي او نیتونو ته نه پرېښودل کیږي، بلکي د ماشومتوب څخه د پلرونو او پالونکو له لوري ورته یو هدف تعینیږي. همدا راز، د هیواد سیاسي، اقتصادي او ټولنیز وضعیت هم د دې لامل سوي چي سړی خوښه او نیت تعقیب نه کړي. په پای کي ویلای سو چي رسول الله ﷺ په ښوونیزو اخلاقو کي پر دې ارزښت ډېر ټینګار کړی دئ، ځکه د نیت سموالی د انسان د نجات ترڅنګ د پوهني د پټو سرچینو د را برسېره کیدو لامل کیږي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۰۰ – ۱۰۵ مخونه)

**۳- تواضع/ عاجزي**

تواضع په لغت کي عاجزی، خاکساری او ساده ګی ته وایي. په اصطلاح کي یې علماء کرام داسي تعریفوي: له خلکو سره په سلوک کي نرمښت، د تندي پراخوالی، د خپل ځان صفت نه کول او خپل ځان تر نورو خلکو غوره نه ګڼلو ته تواضع ویل کیږي. تواضع د اسلام په مبارک دین کي لوړ مقام لري. الله ﷻ فرمایي: "وَلَا تُصَعِّرْ خَدَّكَ لِلنَّاسِ وَلَا تَمْشِ فِي الْأَرْضِ مَرَحًا إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ".﴿لقمان: ۱۸﴾ ژباړه: او مه کوه تګ پر ځمکه په ناز او تکبر سره، بېشکه الله ﷻ هیڅ متکبر او فخر کوونکی نه خوښوي. همدا راز، الله ﷻ و رسول الله ﷺ ته فرمایي: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ".﴿الشعراء: ۲۱۵﴾ ژباړه: اوښکته کړه اوږې خپلي (تواضع وکړه) هغه چا ته چي ستا اطاعت یې کړی دئ له مؤمنانو څخه. په یو حدیث شریف کي راځي: عَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ: أَنَّهُ خَطَبَهُمْ فَقَالَ: "إِنَّ اللهَ أَوْحَى إِلَيَّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ".(أبي داود، ۴۸۹۵ حدیث) ژباړه: الله ﷻ ما ته وحیې کړي دي چي تاسي تواضع وکړئ، یو پر بل ځان لوړ مه ګڼی او یو پر بل تجاوز مه کوئ.

تواضع یوازي د اسلام د مبارک دین شعار نه دئ، بلکي خپله جناب رسول الله ﷺ او د ده مبارکو صحابه کرامو په عمل کي تواضع کړې ده چي دا خپله د تواضع پر ارزښت او د الله ﷻ په وړاندي د تواضع د مقام ښکاره دلیل دئ. عائشه رضی الله عنها فرمایي چي رسول الله ﷺ به خپلي شلېدلي څپلی او جامي خپله ګنډلې، او وینځلې او هم به یې خپله میږه په خپلو مبارکو لاسونو لوشل. همدا راز، ابو سعید خدري رضی الله عنه فرمایي: چي رسول الله ﷺ به په کور کي په

خپله شاګردانو ته واښه اچول، اوښان به يې ترل، له خپل خادم سره به يې خواړه خوړل او کله چې به يې خادم ستړی وو، نو له بازار څخه بې سودا په خپله راوړل او هم به يې پر لاره هره یوه ته سلام اچاوه.(ظهير، ۱۴۰۱ل. ۱۱۵ – ۱۱۶ مخونه) په ښوونه کې يو بل ستر ارزښت د عالم او ښوونکي تواضع ده چې ښتن ته يې عزت، لويي، وقار او اوچته مرتبه وربښل کيږي.(ابن قيم الجوزية، ١٤١٦ق. ٢ ج، ٣١٤ مخ)

الله ﷻ خپل متواضع بنده ګان داسې ستايي: "وَعِبَادُ الرَّحْمَٰنِ الَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى الْأَرْضِ هَوْنًا ...". ﴿الفرقان: ٦٣﴾ ژباړه: او د رحمان ذات بنده ګان هغه کسان دي چې ګرځي دوی پر ځمکه باندې په ورو (په تواضع)....

له حقيقي عالم سره هېڅکله هم غرور او تکبر نه يوځای کيږي او نه هم په تعجب کې لويږي؛ ځکه حقيقي عالم په دې پوهيږي چې علم بې ساحله درياب دئ او هيڅوک يې هم تر غاړې ندی رسېدلی.(يوسف ، ب.ت، ٦٥ مخ) له همدې امله الله ﷻ فرمايي: "وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلًا". ﴿الإسراء: ٨٥﴾ ژباړه: او ندی درکړل سوی تاسي ته له علم (پوهي) څخه، مګر لږ اندازه. عمر رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايي: زما په اُمت کې به داسي قوم را پيدا سي چې قرآن به لولي او موږ ته به وايي، څوک ښه قرآن لولي؟ څوک تر موږ پوه او رسېدلي دي؟ بيا يې وفرمايل: "أولئك منكم مِن هذه الأُمَّة، وأولئك هم وَقودُ النارِ". ژباړه: دوی ستاسي څخه دي او دوی د جهنم د اور بڅرکي دي.(المنذري، ۱۴۱۷ق. ۱ ج، ۷٦ مخ)

ښوونکی بايد علمي غرور ونه لري، هيڅ کله بايد پر نورو د لوړوالي دعوی و نه کړي، هيڅ کله بايد دا و نه وايي چې په فلانی برخه کې تر ما پوه او پورته نه سته. هغه بايد ټولو ته په درنه سترګه وګوري او د نورو پوهي ته غوږ ونيسي. که پر چا نقد او نيوکه هم کوي، بايد په ارامۍ او حکمت له نورو سره چلند و کړي، ځکه تواضع د علم د زياتېدو او خپراوي لامل ګرځي.(ظهير، ۱۴۰۱ل. ۱۱۸ مخ) رسول الله ﷺ فرمايي: "تعَلَّموا العِلمَ وتَعَلَّموا لِلعِلمِ السَّكِينَةَ والوَقارَ، وتَواضَعوا لِمَن تَعَلَّمونَ مِنهُ".(الطبراني، ـــــــ. ۳٦۵ مخ) ژباړه: علم زده کړئ او له علم سره سکينت او درنښت هم زده کړئ، هغه چاته متواضع اوسئ، چې علم ځني زده کوئ. بناءً؛ ښوونکی ته په کار ده چې په خپل ځان کې تواضع راولي او هم يې زده کوونکو ته تعليم ورکړي.(شاکري، ـــــــ. ۱۱۴ – ۱۱۸ مخونه)

**۴- تقوی/ پرهېزګاري**

تقوی د شرعي اوامرو پر ځای کول او د منکراتو او حرامو څخه پرهیز کولو ته وايي.ګڼ شمېر شرعي نصوص مسلمانان تقوی ته هڅوي. الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ ... ".﴿آل‌عمران: ۱۰۲﴾ ژباړه: ای مؤمنانو! د الله ﷻ څخه په حقيقي ډېره سره و ډېرېږئ. سره د دې چې رسول الله ﷺ د متقيانو امام دئ، بيا هم د لازياتي تقوی غوښتنه کوي. "اللَّهُمَّ إِنِي أَسْأَلُكَ الْهُدَى، وَالتُّقَى، وَالعفَافَ، والغنَى".(الطبراني، ـــــ، ٦ب، ٦ج، ٨٨ مخ) ژباړه: ای الله ﷻ! ما ته هدايت، تقوی، پاک لمني او مړښت را په برخه کړې.(فاطمي، ١٣٩٧ل. ٦٦ – ٦٩ مخونه)

تقوی د هر مسلمان د پاره مهمه او همدا تقوی د مسلمانۍ اصلي موخه ده، خو د يوه ښوونکی لپاره تقوی ډېر ارزښت لري. ښوونکی چې د تقوی په جوهر نه وي ښايسته سوی، نو په خپلو اسلامي تعاملاتو او مناهجو کي به بې بندباره وي، په درس ورکولو کي به اخلاص نه لري، د زده کوونکو ترمنځ به عدالت نه کوئ، په نمرو ورکولو کي به له واسطه بازۍ او فريب څخه کار اخلي چي بالاخره به خدای مه کړه د زده کوونکو د سالمي تربيې پر ځای د هغوی د ديني، اخلاقي او ادبي تربيې نقصان لامل سي. بناءً؛ تقوی د يوه ښوونکی، تربيه کوونکي او مربي لپاره د عزت او وقار ستر جوهر دئ.(شاکري، ـــــ. ٦ – ٧ مخونه)

**۵- صداقت/ رښتينولي او پر ژمنه وفاء**

الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ".﴿التوبه: ۱۱۹﴾ ژباړه: آی مؤمنانو! له الله ﷻ څخه و ډېرېږئ او له رښتينو خلکو سره ملګري سئ. يو له هغو سترو صفتونو څخه چي په ښوونه او روزنه کي اړين ګڼل کيږي، صدق او رښتينولي دئ چي د ښوونکی لپاره د سر د تاج حيثيت لري. ښوونکی بايد په خپلو ټولو افعالو، اقوالو او اشاراتو کي رښتيا ويوونکی وي، ځکه له يوه لوري د انسان هره کړنه، خبره او اشاره د ده په عملنامه کي ليکل کيږي او له بله لوري ښوونکی بايد دا فکر و نه کړي چي زه هر څه وايم زده کوونکي نو نه په پوهيږي، بلکي داسي فکر بې ځايه دئ، يعني؛ زده کوونکي ستا په هره خبره پوهيږي او که خدای مه کړه يو ځل ورته دروغجن ثابت سوې، نو بيا دي په رښتيا هم باور نه کوي.(ظهير، ١٤٠١ل. ١٠٦ مخ) عَنْ عَبْدِ اللهِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يَكُونَ صِدِّيقًا وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا".(صحيح

مسلم، ۲۶۰۷ حدیث) ژباړه: یقیناً صداقت بنده د نېکۍ لور ته بيايي او نېکي بنده د جنت لور ته بيايي، تر دې پورې چې رښتیا ویونکی سړی د الله ﷻ په نزد صدیق ولیکل سي او یقیناً درواغ سړی د بدو کارونو لور ته بیایي او بد کارونه سړی د اور لور ته بیایي، تر دې چې درواغ ویونکی سړی د الله ﷻ په نزد درواغجن ولیکل سي.

دا چي د رښتینولی ارزښت د ژوند په ټولو برخو کي څرګند دئ، خو په علم او پوهنه کي يې اړتیا تر هر څه وړاندي ده. امام ابوحنیفه رحمه الله فرمایي: "وكـن في سرك كما أنت في علانيتك، ولا يصلح أمر العلم إلا بعد أن يجعل سره كعلانيته".(أبو حنيفة، ۱۴۱۸ق. الوصية، ۹ مخ) ژباړه: په پټه کي داسي اوسه، لکه په ښکاره چي يې؛ ځکه د علم چاره تر هغو نه سمېږي چي راز دي د څرګند حالت په څېر و نه ګرځي. بناءً، د ښوونکي صداقت او رښتینولي زده کوونکي اعتماد او ډاډګیرني ته رابولي، د زده کوونکو په وړاندی د هغه مقام لوړوي، او د هغه رسالت او پیغام ته د اهمیت په نظر ګوري.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۰۹ مخونه)

همدا راز؛ پر خپلو کړو ژمنو وفاء کول هم د یو مؤمن ستره ده چي له منافق څخه يې را بېلوي. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ".(صحیح البخاري، ۳۴ حدیث) ژباړه: ابي هریره رضي الله عنه روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل: د منافق درې نښي دي؛ کله چي خبري کوي درواغ وایي، کله چي وعده وکړي وعده خلافي کوي، کله چي امانت ور وسپارې، خیانت پکي کوي. الله ﷻ فرمایي: "وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ".﴿المؤمنون: ۸﴾ ژباړه: او هغه کسان بریالي سول چي دوی د امانتونو او وعدو رعایتوونکي دي. بناءً، ښوونکی باید له خپل ځان، کورنی، اداري، زده کوونکو او ټولني سره پر خپلو کړو ژمنو وفاء وکړي. الله ﷻ فرمایي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ ...". ﴿المائده: ۱﴾ ژباړه: آی مؤمنانو! پر خپلو عقدونو وفاء وکړئ.(شاکري، ـــــــ. ۱۸ – ۲۱ مخونه)

### ٦- ترحم/ شفقت

شفقت په لغت کي نرمي کولو ته وایي رحم او شفقت داسي لوړ او عزتمند صفت دی چي خلک د محتاجو خلکو مرستي ته هڅوي، اړو خلکو ته ګټه رسوي او زیان څني دفع کوي. د اسلام مبارک دین خپل پیروان شفقت او ترحم ته هڅولي او داسي یوه ټولنه جوړول غواړي چي هر غړی يې د ترحم، شفقت او مهرباني په لباس ملبس وي، خو د شفت او مهرباني لپاره يې اصول او مقررات

پیش بیني کړې دي. ګڼ شمېر شرعي نصوص شتون لري چې مسلمانان و ترحم او مهرباني ته هڅوي: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: "لا يَرْحَمُ اللَّهُ مَن لا يَرْحَمُ النَّاسَ".(صحيح البخاري، ۷۳۷٦ حدیث) ژباړه: څوک چې پر خلکو رحم نه کوي، نو الله پر هغه رحم نه کوي. همدا راز؛ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ: "ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِى السَّمَاءِ".(ابو داود ۴۹۴۱ حدیث) ژباړه: تاسي پر هغه چا رحم وکړئ چې په ځمکه کې دي، نو پر تاسي به هغه ذات رحم وکړي چې په آسمان کې دئ. البته؛ اسلام يوازې پر انسانانو د رحم او شفقت کولو امر نه دئ کړئ، بلکې د هر ژوندي موجود سره ښه کول يې د اجر او ثواب لامل ګڼلي دي. يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا قَالَ: "فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ".(صحيح البخاري، ۲۳٦۳ حديث) ژباړه: أی د الله رسول ﷺ ! آيا موږ ته له څارویو سره په ښو کولو کې آجر او ثواب سته؟، نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: هو! د هر ژوندي موجود سره په ښو کولو کې اجر او ثواب درکول کیږي.(فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۵۵ – ۵۸ مخونه)

بناءً؛ پر ښوونکی لازمه ده چې د خپلو زده کوونکو سره نرمه رويه او ښه سلوک وکړي، د هغوی زړونه کمزوري دي د سختۍ توان نه لري، ډېره سختي او بد سلوک د ښوونکی له شخصيت او د ده له درس څخه د زړه توروالي سبب ګرځي. ښوونکی بايد په لومړي قدم کې د زده کوونکو په زړه کې خپله مينه، محبت او مهرباني ځای کړي، ترڅو وروسته يې پر هغوی فشار او تأديب کوم منفي اغېز و نه لري. ان رسول الله ﷺ قال: "مَن يُحْرَمِ الرِّفْقَ، يُحْرَمِ الخيرَ كُلَّه".(صحيح البخاري، ٦٦٠٦ مخ) ژباړه: په چا کې چې نرم خوی نه وي، هغه له هر ډول خير او نېکۍ څخه محروم او بې برخي دئ.(شاکري، ــــــ. ۲۱ – ۲۲ مخونه)

### ۷- شجاعت او غیرت

شجاعت په لغت کې جرأت، اقدام او د زړه قوت ته وايي. په اصطلاح کې يې سيد شريف جرجاني رحمه الله داسي تعريفوي: شجاعت د غضب او بزدلی ترمنځ د نفس هغه حالت دئ چې په هغه سره د مهمو او لازمي کارونو په هکله اقدام کيږي.(صديقي، ۱۳۹۵ل. ۱۱۴ مخ). د ستونزو په وړاندي زړه ورتيا او مقاومت د برلاسی لامل ګرځي. مشهور عربي متل دی چې وايي: "اشجاعةُ وِقَايَةٌ و الجُبْنُ مَقتَلَةٌ". ژباړه: د ستونزو په وړاندي مقاومت د يادو ستونزو څخه د وتلو غوره وسيله ده، خو د ستونزو په وړاندي بې زړه توب مرګ دئ. څکه نو ابوبکر صديق و خالد بن وليد رضی

الله عنهما ته وایي: "اِحرِصْ عَلَی الْمَوتِ تُوْهَبْ لَکَ الحَیَاةُ". ژباړه: مرګ و غواړه چي ژوند درکړل سي. همدا لامل دئ چي د اسلام مبارك دین خپل پیروان هڅوي چي عبادات او دنده په زړورتیا ترسره کړي. رسول الله ﷺ به سهار او ماښام له بې زړه توب څخه پناه غوښتل او فرمایل به یې: "اللهم إني أعوذُ بكَ ... منَ الجُبنِ ...".(السیوطی، ۲۸٦۴ مخ). ژباړه: ائ الله ﷻ زه په تا سره له بې زړه توب څخه پناه غواړم. براء بن عاذب رضی الله عنه وایي: کله چي به د جهاد په ډګر کي جګړه توده سوه، نو موږ به د رسول الله ﷺ شا ته پناه وړل او غیرتمند سړی به له رسول الله ﷺ سره په یوه صف کي جنګېده.(فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۷٦ – ۸۰ مخونه)

**۸- حیاء**

حیاء په لغت کي ژوند کولو ته وایي. په اصطلاح کي د ملامتیا له وېرې د یو شي څخه ځان ساتلو او د نوموړي شي ترک کولو ته حیاء ویل کیږي. حیاء یو له هغو ښو اخلاقو څخه ده چي نن سبا په محلي، ملي او نړیواله کچه ډېره لږ لیدله کیږي. حیاء انسان له بېلاربیو څخه ژغوري او د بدی لور ته یې نه پرېږدي. حیاء د ټولو لپاره، خو په ځانګړي ډول د ښځو لپاره لویه سرمایه ده چي له بد اخلاقه خلکو څخه یې ساتي. نن ورځ چي په هره ټولنه کي ځوانانو او ښځو ته کومي ستونزي وړپېښي دي، یوازینی لامل یې د هغوی بې حیایي ده. حیاء د اسلام په مبارك دین کي د لوړو اخلاقو څخه ده په یو حدیث شریف کي راځي: ان رسول الله ﷺ قال: "الْحَیَاءَ مِنَ الإِیمَانِ".(الترمذي، ۲۰۰۹ حدیث) ژباړه: حیاء د ایمان برخه ده. بل ځای کي فرمایي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، ان رسول الله ﷺ قال: "الْحَیَاءُ وَالْإِیمَانُ قُرِنَا جَمِیعًا، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ".(البیهقي في شعب الایمان، ۷۳۳۱ حدیث) ژباړه: حیاء او ایمان یو د بل سره تړول سوي دي، کله چي یو له منځه لاړ سي، بل یې هم له منځه ځي. همدا راز، په یو بل حدیث کي راځي: عن ابی سعید خدري رضی الله عنه: "کان الرسول الله ﷺ اشدَّ حیاءً مِنَ الْعِذْرَاْءِ فی خِدرِهَا". ژباړه: د رسول الله ﷺ حیاء تر هغي حیاناکي پېغلي هم ډېره وه چي د خپل کور په پرده کي ناسته وي. عمر بن خطاب رضی الله عنه فرمایي: "من قل حیاءهُ وَرَعُهُ وَ من قلَ ورعهُ مات قلبهُ". ژباړه: د چا چي حیاء لږ سي، نو تقوی یې کمیږي او د چا چي تقوی لږ سي، نو زړه یې مري. همدا راز؛ سلمان فارسي ضی الله عنه فرمایي: "لَأَنْ أَمُوتَ ثم أُحْیَا ثم أَمُوتَ ثم أُحْیَا ثلاثًا، أَحَبُّ إليّ من أن ینظر أحدٌ إلی عورتي".. ژباړه: که درې ځلي ژوندی او بېرته مړ سم، دا مي ډېر خوښ دئ، تر دې چي څوك زما عورت ته وګوري یا زه د بل چا عورت ته

وګورم. مصطفی السباعی وایي:" إذا همّت نفسك بالمعصية، فذكّرها بالله، فإن لم ترجع، فذكّرها بأخلاق الرجال، فإن لم ترتدع، فذكّرها بالفضيحة إذا علم بها الناس، فإن لم ترجع، فاعلم أنك قد انقلبتَ إلى حيوان".
ژباړه: کله چې دې زړه ګناه کول وغواړي، نو الله ﷻ ور یاد کړه، که دغه یاد له مذکوره ګناه څخه منع نه کړې، بیا نو خلك ور یاد کړه، که دې یاد هم له مذکوره ګناه څخه منع نه کړې، نو بیا پوه سه چې له انسانیت څخه وتلی او حیوان ګرځېدلی یې.(فاطمي، ۱۳۹۷ل. ۱۱۲ – ۱۱۴ مخونه)

**۹- په نېکیو امر او له بدیو منع**

پر الله ﷻ تر ایمان وروسته د مؤمن دوهمه ستره وجیبه امر بالمعروف او نهی عن المنکر ده. الله ﷻ فرمايي: "كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ".﴿آل‌عمران: ۱۱۰﴾
ژباړه: اوس تاسي هغه غوره امت یاست، کوم چې د انسانانو د لارښوونې او اصلاح لپاره منځ ته راوړل سوې ده، تاسي په نېکیو امر او له بدیو منع وکړئ.

أمر بالمعروف او نهی عن المنکر د مؤمن هغه ځانګړنه ده چې مؤمن له منافق څخه بېلوي. الله ﷻ فرمایي: "وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ ...".﴿التوبة: ۷۱﴾. ژباړه: او مؤمنان سړي او مؤمناني ښځې ځیني د نورو دوستان دي، په نېکۍ امر او له بدیو څخه منع کوي. نو هیڅ مؤمن او مسلمانه ټولنه تر هغو نجات، امن او پرمختګ نه سي ترلاسه کولای، ترڅو چې یاده دنده ترسره نه کړي. الله ﷻ فرمایي: "... إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ".﴿العصر: ۱- ۳﴾. ژباړه: ... مګر پرته له هغو کسان چې ایمان یې راوړی وي، نېک اعمال یې کړي وي، یو تر بله یې وصیت کړی وي په حق سره او وصیت یې کړی وي په صبر سره. بناءً، ښوونکی باید د الله ﷻ له لوري د ورکړل سوي علم او پوهې پر بنسټ په ټولنه کې د یو مؤمن په توګه خپل پورتنی رسالت په سم ډول سر ته ورسوي، ځان، کورنۍ، زده کوونکي او د ټولني عام خلك په نېکیو امر او له بدیو منع کړي. ان رسول الله ﷺ قال: "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِن عِلْمٍ لا يَنْفَعُ...". (صحیح مسلم، ۲۷۲۲ حدیث) ژباړه: ای الله ﷻ زه په تا سره پناه غواړم له هغه علم څخه بې ګټې وي (یعني؛ بې عمله وي او نورو ته یې ګټه و نه رسیږي.(شاکري، ــــــ. ۹ – ۱۲ مخونه)

**۱۰- مسؤلیت پذیري**

یعني شخص باید د خپلو کړنو اړوند جواب ووايي او له هغو څخه د را منځ ته کیدونکو پایلو مسؤلیت پر غاړه وا خلي. ان رسول الله ﷺ قال: "ألا فكلُّكم راعٍ وكلُّكم مسؤولٌ عن رعيتِهِ".(صحیح مسلم، ۱۸۲۹ حدیث) ژباړه: هر یو ستاسي راعي(شپون) دئ او هر یو ستاسي تر خپل لاس لاندي کسانو په برخه کي مسئول او جواب ویوونکی دئ. ښوونکی د زده کوونکي د ټولو حالاتو د مراقبت او نظارت درس او تربیې په هکله مسئول دئ او پوښتنه به څني کیږي. راعي هغه ساتونکي ته وایي چي د خپلو ترلاس لاندي کسانو يي پر غاړه وي. لکه؛ اداره، صنف ،کورنۍ او نور. ان رسول الله ﷺ قال: "إنَّ اللَّهَ سَائِلٌ كُلَّ رَاعٍ عمَّا استَرْعَاهُ أحفظ أم ضيع".(صحیح الجامع، ۱۷۷۴ حدیث) ژباړه: یقیناً الله ﷻ د هر شپونکي، هر مسئول نه د خپل مسئولیت په باره کي پوښتنه کوي چي د هغه ساتنه يي کړي او که يي هغه ضایع کړی دئ. نو پر ښوونکی لازمه ده چي خپل مسئولیت په ښه شان سرته ورسوي، که د ښوونکی ټنبلي، عدم توجه او سستي له امله د زده کوونکو سلوك او زده کړه یېز بهیر ټکنی او خراب سي او د انحراف لوري ته لاړ سي، نو دا به د ښوونکی پر غاړه یو بار وي چي د داسي بار پورته کول به د قیامت په ورځ ډېر سخت وي.(شاکري، ـــــــ. ۸ – ۹ مخونه).

نو قدرمن ښوونکي! همدا نن دي خپل بار سپک کړه!.

**۱۱- امانتداري/ د اسرارو ساتنه**

امانتداري په حقیقت کي د مسلمان یوه ستره نښه ده. کله چي په ټولنه کي په یو ځانګړي کار او کسب بوخت سو، نو هغه له مورږ سره په حقیقت کي امانت دئ.(اشکزی، ۱۴۰۰ل. ۱۰ مخ). الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا".﴿النساء: ۵۸﴾ ژباړه: الله ﷻ تاسو ته امر کوي چي امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. همدا راز، بل ځای فرمايي: "وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ".﴿المؤمنون: ۸﴾ ژباړه: او هغه کسان بریالي سول چي د امانتونو او وعدو رعایتوونکي دي. همدا راز حضرت علی رضی الله عنه خپلو کارمندانو او مادونانو ته فرمايي؛ "العملُ الذي كُلِّفتم به أمانةٌ في أعناقكم". ژباړه: هغه کار چي تاسي ته سپارل سوی دئ، ستاسي پر ذمه یو امانت دئ.

**۱۲- عدالت، انصاف او له هر ډول تبعیض څخه ډډه**

د الله ﷻ له لوري د ټولو پیغمبرانو رالیږلو او آسماني کتابونو د نزول یوازینی موخه پر ځمکه د حق او عدالت قائمول دي. الله ﷻ فرمايي: "لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ

لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ".﴿الحديد: ۲۵﴾ ژباړه: يقيناً موږ رسولان له خپلو روښانه او څرګندو هداياتو سره وليږل او له هغوی سره مو کتاب او تله نازل کړل، تر څو پر خلکو عدالت قائم سي.

دا چي د اسلام د مبارك دين بنسټګر د الله ﷻ عادل ذات دئ، ځکه نو له خپلو بنده ګانو څخه هم د عدالت غوښتنه کوي او فرمايي: "وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ".﴿النساء: ۵۸﴾ ژباړه؛ او کله چي د خلکو تر منځ د منځګړي/ حکم په حيث وټاکل سی، نو په عدالت سره حکم وکړئ. بل ځای کي الله ﷻ فرمايي: "إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَىٰ".﴿النحل: ۹۰﴾ ژباړه: الله ﷻ د عدل، ښېګڼي او خپلولی پالني حکم کوي.

ښوونکی بايد په سلوك، زده کړه، تدريس، نمرو ورکولو، حاضري او داسي نورو ټولو چارو کي د زده کوونکو تر مينځ عدالت وکړي. د خپلوی، ملګری، دوښمنی، تربورګلوی، خانی، ملکی، سمت، ژبي، قوم، نژاد، مذهب او داسي نورو تر اغېز لاندي بايد را نه سي، ترڅو د بې عدالتی ښکار نه سي. الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُونُوا قَوَّامِينَ لِلَّهِ شُهَدَاءَ بِالْقِسْطِ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَىٰ أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ...".﴿المائدة: ۸﴾ ژباړه: ائ مؤمنانو! سي قايم د الله ﷻ د پاره ګواهي ورکونکي په انصاف او د کوم قوم د دوښمنی له امله انصاف مه پرېږدی، عدل کوئ، ځکه عدالت تقوی ته نږدې دئ.(شاکري، ـــــ. ۲۲ – ۲۳ مخونه)

**۱۳- استقامت، حوصله، صبر او تلوار نه کول**

صبر په لغت کي بندولو او حبس ته وايي. په اصطلاح کي يې سيد شريف جرجاني رحمه الله داسي تعريفوي: له الله ﷻ پرته بل چا ته د درد او غم څخه شکايت نه کولو ته صبر وايي. الله ﷻ له صابرينو سره د محبت په هکله فرمايي: "وَاللَّهُ يُحِبُّ الصَّابِرِينَ".﴿آل‌عمران: ۱۴۶﴾ ژباړه: بېشکه چي الله ﷻ له صابرينو سره محبت لري. انسان په ژوند کي صبر ته اړتيا لري، ځکه دا دنيا د ابتلاء او ازمويني ځای دئ.

صبر د ژوند په ټولو امورو، په ځانګړي ډول په کاري برخه کي مهم اخلاقي اصل ګڼل کيږي او له زيات ارزښت څخه برخمن دئ. خستګي، بې خوبي، له همکارانو سره اختلافات او داسي نور ممکن زموږ د کار مانع سي. بناءً، بايد بايد صابرين و اوسو تر څو په نهايت کي بريالي سو. حضرت علي رضی الله عنه فرمايي: "الصبرُ في الأمورِ بمنزلةِ الرأسِ من الجسدِ، فإذا فارقَ الرأسُ الجسدَ فسدَ الجسدُ، وإذا فارقَ الصبرُ الأمورَ فسدتِ الأمورُ". ژباړه؛ په کارونو کي د صبر ارزښت داسي دئ لکه په بدن کي

د سر ارزښت. بناءً؛ عجله موخي ته د رسېدو لپاره یوه ناخوښه اخلاقي کړنه ده، که څه هم تلوار د ژوند په ټولو برخو (فردي/ ټولنیزو) کي منفي اغېزې لري، مګر په کاري ساحه کي د ډېرو سترو زیانونو او خطراتو را منځ ته کیدو لامل کیږي. لکه: پښېماني، د شر غوښتنه او ناکامی. نو د مخنیوي لپاره یې باید تر عمل مخکي فکر او مشوره وسي.

ګران ښوونکیه! د خپل دعوت، تعلیم او هڅو ثمرې او پایلي ته بېړه او تلوار مه کوه، ته نن د کښت په کرلو لګیا یې، نو له کرلو سره سم حاصل مه غواړه ستا سره چي د زده کوونکو د ښکي تربیې او علمي سویې د لوړوالي غم دئ، نو خپلي هڅي او خیر ته د دعوت دا لړ – لړ خبري کمي مه ګڼه، بلکي همدا وړې – وړې خبري او هڅي وروسته د ډېرو او ښو پایلو لرونکي وي. ان رسول الله ﷺ قال: "لَأن يَهدي اللّه على يَدَيك رجلاً خيرٌ لَكَ ممّا طَلَعَت عليه الشّمسُ و غَرَبَت، و لَكَ وَلاؤهُ يا عليّ".(صحیح ابن حبان، ۶۹۳۲ حدیث) ژباړه: که الله ﷻ ستا په لاس یو بنده ته هدایت وکړي، دا ستا لپاره تر ټولو هغو کائیناتو چي لمر پر راخیږي او لوېږي غوره دئ. همداراز؛ تدریس ډېري ستونزي لري، نو که ته د ځینو زده کوونکو څخه بدي خبري اوري او بد حرکات یېویني، نو هغوی ته د ځان فکر مه کوه او دا فکر هم مه کوه چي هغوی به ټول اصلاح وي، بلکي صبر وکړه، ځکه د صبر میوه ډېره ښه او خوږه وي، نو د دې پر ځای چي له بې صبرۍ او ښکنځلو څخه کار واخلې، برعکس په صبر او حوصله د هغوی د اصلاح لپاره خپلي سپېڅلي هڅي جاري وساته.(شاکري، ـــــــ. ۲۴ – ۲۵ مخونه)

**۱۴- متقابل درناوی**

زموږ په ټولنه کي یو متل دي؛(که د ځان قدر غواړې، نو د نورو قدر وکړه!). ښوونکی باید د خپلو زده کوونکو درناوی وکړي، تر څو هغوی د ده درناوی وکړي، زده کوونکو ته باید بد او ناوړه الفاظ و نه کارول سي لکه: ټمبله، جاهله، خره او داسي نور. ځکه سره د دې چي دا ډول الفاظ کارول حرام دي، د زده کوونکو پر اذهانو هم منفي اغېز کوي او د ښوونکی په وړاندي یې درناوی یې له زړونو څخه وځي. الله ﷻ فرمایي: "وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ...". ﴿الحجرات: ۱۱﴾. ژباړه: او یو بل په بدو لقبو مه بولئ. په یو حدیث شریف کي راځي: ان رسول الله ﷺ قال: "من حق المؤمن علي المؤمن أن يسميه بأحب أسمائه إليه". ژباړه: پر مسلمان د بل مسلمان له حقوقو څخه یو دا دئ چي هغه په داسي نوم و بولي چي هغه ته خوښ وي.(شاکري، ـــــــ. ۲۵ – ۲۶ مخونه)

**۱۵- حلم، زغم او له غصې څخه پرهیز**

په انساني ټولنه کې حتماً داسې څه پېښیږي چې څوک ناحقه زیانمن کړي، نو که یې په وړاندې سخت انتقامي چلند وسي، ممکن دواړو ته ناوړه عواقب زیږوي، خو که د تېرې په وړاندې له نرم سلوک او عفوې څخه کار واخیستل سي، نو د دواړو لوریو لپاره ګټوري پایلې لري. الله ﷻ فرمايي: "وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ".﴿آل‌عمران: ۱۳٤﴾ ژباړه: د جنتیانو له خویونو څخه یو دا دئ چې سړی خپله غوصه وزغمي او تېرې کوونکو خلکو ته عفوه وکړي، بېشکه الله ﷻ نېکي کوونکي خلک خوښوي. بل ځای کې راځي: "وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ".﴿فصلت: ٣٤﴾ ژباړه: نېکي او بدي هیڅکله سره برابرې دای نه سي، په نېکی سره بدي له منځه یوسه، ځکه په داسې کولو سره به ستا دښمن ستا په خوږ دوست بدل سي.

په یو حدیث کې راځي: عَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ: "مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنْ أَيِّ الْحُورِ شَاءَ".(سنن أبو داود، ۴۷۷۷ حدیث) ژباړه: څوک چې په داسې حال کې خپل قهر او غصه وزغمي او عفوه وکړي چې د خپل قهر د عملي کولو او تطبیق توانايي ولري، نو د قیامت په ورځ به الله ﷻ د خلکو په مخ کې دا سړي ته دا اختیار ورکړي چې کومه حوره دې خوښیږي د ځان لپاره یې واخله. همدا راز، په یو بل حدیث شریف کې راځي؛ عن عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ: "الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ".(سنن ابن ماجه، ۳۹۳۴ حدیث) ژباړه: مسلمان هغه څوک دئ چې بل مسلمان یې له ژبې او لاس څخه په امن وي.

رسول الله ﷺ ته یو کس راغی او ور ته وایي چې ما ته نصیحت وکړه. رسول الله ﷺ درې ځلي په ټینګار ورته و فرمایل: "لا تغضب". ژباړه: غصه مه کوه!. بناءً؛ ښوونکی ته ښایي چې د خپلو زده کوونکو سره نېک، مناسب او له مهربانۍ څخه ډک سلوک وکړي، خو دا نرم سلوک دومره هم باید نه وي چې د ټولګی نظم اخلال کړي او یا خدای مه کړه چې د ښوونکي عزت او مقام زیانمن کړي. البته، ښوونکی شرعاً د تأدیب حق لري، خو تأدیب باید د اصلاح په نیت وي، نه نور څه. د تأدیب کمیت او کیفیت د زده کوونکو په حالت پوري اړه لري؛ ځیني یوازي په کتلو ، ځیني یوازي په یوه خبره او ځیني بیا د اصلاح لپاره بدني تأدیب ته اړتیا پیدا کوي، خو د تأدیب

هر ډول باید د اسلام د مبارک دین په چوکاټ کې ترسره سي. همدا راز؛ قدرمن ښوونکیه! د ښکنځلو او بدو الفاظو له ویلو څخه جداً ډډه وکړه، ځکه ښکنځل پر ګناه سربېره د عداوت او دوښمنۍ سبب هم ګرځي.(شاکري، ــــــ. ۲۴ – ۲۵ مخونه)

**۱٦- انتقاد منل او اصلاح پذیري**

ټول انسانان د بېلا بېلو لاملونو پر بنسټ لکه د عملي او فکري قوت کموالی، نفسي غوښتني، هېرېدنه او داسي نورو له امله د اشتباهاتو سره مخ کېږي چي ممکن خطرات او زیانونه له ځان سره ولري، نو انسان باید د بېلا بېلو وسایلو څخه په ګټه اخیستني سره خپل اشتباهات درک او اصلاح کړي. له دغو وسایلو څخه یو هم نصیحت او انتقاد منل دي چي د ټولنیز ژوند پر بقاء برسېره د کاري ژوند د بقاء لامل هم کېږي. انتقاد قبلونه او د رفتار تغیرول د سالمو افرادو ځانګړنه ده. سالیمه نیوکه په حقیقت کي د خطر ځراغ دئ چي پر موقع په منصفانه او واقعیت بینانه ډول له تخریب او توهین پرته نیمګړتیاوو ته اشاره کوي. حضرت علي رضی الله عنه فرمایي: "مَن قَبِلَ النصیحه سَلِمَ مِنَ الفَضِیحَه". ژباړه؛ څوک چي نصیحت مني له رسوایۍ څخه خلاصون پیدا کوي.(اڅکزی، ۱۴۰۰ل. ۹ – ۱۰ مخونه). نو قدرمن ښوونکي! دا چي انسان عاجزه ده او له نیمګړتیاوو څخه خالي نه دئ، نو که پر تا باندي کیدونکی انتقاد او نیوکه سالمه او پر ځای وه، نو په ورین تندي یې قبوله کړه او په ځان کي اصلاحات راوله.

**۱۷- نظم او کاري انضباط**

نن ورځ د اداري کارونو زیاتوالی او د اړیکو پراخوالی د کاري نظم غوښتنه کوي. د نظم شتون د ارامۍ احساسولو لامل کېږي. کاري انضباط یعني رښتنولي، نظم، ترتیب او له هر راز سستۍ او ټمبلۍ څخه ځان ساتنه ده. هیڅ سازمان او جوړښت د اخلاقي اصولو او کاري انضباط له رعایت پرته نه سي کولای خپلي موخي ترلاسه کړي. هر ډول بې نظمي او سستي د کاري څواک او آن د نورو د حقوقو د ضایع کېدو او په ټوله کي د فرد او سازمان د ناکامۍ او نابودۍ لامل کېږي. انضباط په حقیقت کي د عاداتو زده کړي او د هر ځانګړي کار لپاره توانایي ته ویل کېږي. مثلاً؛ د انضباط ښه بېلګه د امتحاناتو په برخه کي د زده کوونکو او محصلانو غیر منظموالی دئ چي متاسفانه ډېری زده کوونکي محصلان د زده کړي او مطالعي په برخه کي بې نظمي او سستي کوي. یعني د دې پر ځای چي د سمستر په جریان کي په منظم ډول خپل درسونه تعقیب کړي، نن او سبا ته یې ځنډوي

او د امتحان په شپه په مطالعه کولو مشغولیږي، ځکه نو دا ډول زده کوونکي او محصلان تر ډېره په خپل تحصیل کي بريالي نه وي. بناءً، کاري انضباط او هر کار په خپل وخت اجراء کول ډېر اړين دي.(اڅکزی، ۱۴۰۰ل. ۹ مخ)

**۱۸- د ټولني په پرمختګ او عامه پوهاوي کي ونډه اخيستل**

قدرمن ښوونکيه! ته د ښوونيز او تحصيلي نظام يوه ستره برخه او رکن يې، نو د ټولني خلکو ته په اسلامي، حقوقي، سياسي، ټولنيز، فرهنګي او اقتصادي برخو کي عامه پوهاوی ورکړه او د دې کار لپاره بايد ليکني، ژباړي، څېړني، مرکي، مباحثې او مناظرې وکړې، ترڅو د ټولني په عامه پوهاوي او د علمي سطحي په لوړولو کي خپل رول په مثبت شکل ولوبوې. عَن أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنّ رسول الله ﷺ قَالَ: "إِذَا مَاتَ الإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَمَلُهُ إِلاَّ مِنْ ثَلاثَةِ أَشْيَاءَ: مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ".(الترمذي، ۱۳۷٦ حديث) ژباړه: له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دئ چي رسول الله ﷺ و فرمايل: کله چي بني آدم مړ سي، نو اعمال يې قطع کيږي، مګر د درې اعمالو ثوابونه بيا هم ور رسيږي؛ جاريه خيرات/ صدقه، ګټور علم او نېک اولاد چي هر وخت دعاوي ورته کوي.(اڅکزی، ۱۴۰۰ل. ۱٦٦ – ۱٦۷ مخونه)

**۱۹- د وينا او عمل ترمنځ مطابقت**

علم او پوهه په حقيقت کي رڼا ده چي پر بنسټ يې عالم کولای سي خپل خالق و پېژني او هغه موخي ته ځان په ورسوي، د کومي لپاره چي پيدا سوی دئ. يعني؛ علم يوازي د معلوماتو را ټولول نه دي، بلکي دا هغه رڼا ده چي الله ﷻ يې د خپل مؤمن بنده په زړه کي ور اچوي، ترڅو ډاډ په ترلاسه کړي او له اضطراب او تشويش څخه نجات پيدا کړي چي دې ته نافع او ګټور علم ويل کيږي؛ مګر کله چي علم يوازي په ژبه او خبرو کي محدود سي او عملي جنبه پيدا نه کړي، نو دا بيا د نفاق حالت را منځ ته کوي، په کوم کي چي د عمل پر ځای يوازي خبري وي. هغه علماء او ښوونکي چي نورو ته په نېکيو امر کوي، اما خپل ځانونه يې هېر کړي وي، نو الله ﷻ ورته د ډېر بد برخليک او وعيد خبر ورکوي. الله ﷻ فرمايي: "أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنسَوْنَ أَنفُسَكُمْ وَأَنتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ".﴿البقرة: ٤٤﴾ ژباړه: ايا امر کوئ تاسي نورو خلکو ته په نيکی سره او هيروی ځانونه خپل؟ په داسي حال کي چي تاسي کتاب (قرآن کريم) لولئ ايا تا سي نه پوهيږئ، (د خپلو افعالو په بدی).

رسول الله ﷺ هغه شخصیت وو چې د خیر په کړنو کې لومړنی ترسره کوونکی او له نواهیو څخه لومړنی منع کوونکی وو. کله چې د مشریکانو او مسلمانانو ترمنځ د حدیبې د صلح تړون وسو، نو د شرایطو د وضع کیدو له امله مسلمانان په یاد تړون ناخوښه وو، رسول الله ﷺ د تړون له لیکلو وروسته خپلو اصحابو ته وفرمایل: "قوموا فانحروا ثم احلقوا". ژباړه: پورته سئ، قرباني مو ذبح او سرونه مو وخریئ. دا خبره یې درې ځله تکرار کړه؛ مګر په لومړي ځل هغه خپل اصحاب ولیدل چې یو هم پورته نه سو، نو رسول الله ﷺ د ام سلمه خېمې ته ورغی او موضوع یې ورسره شریکه کړه. ام سلمه ورته وویل: ای رسول الله ﷺ! دباندې ور ووځه او له چا سره تر خبرو مخکې، خپله اوښه حلاله او خپل سلمان (نایي) ته دې د ویښتانو لرې کولو وواېه. رسول الله ﷺ همدا سې وکړل، کله چې صحابه کرامو ولید، نو سمدستي دوی هم همداسې وکړل، خو پر خپلو کړو دومره پښېمانه او خفه وو، نږدې چې ځیني مړه سوي وای". له دې مبارکي واقعې څخه دا پایله لاسته راځي چې د ښوونکي د یو امر او وینا عملي کړنه د زده کوونکو په نفسونو کې د کار مینه او احساس پیدا کوي او په دې توګه کولای سي، هغه حساسیت چې د کار په مخکې پروت دئ له منځه یوسي.(ابن قیم الجوزیة، ۱۴۱۵ق. ۳ ج، ۲۶۳ مخ)

بناءً، د ښوونکي لپاره د دې صفت شتون ډېر اړین دئ، ځکه هغه د زده کوونکو لپاره بېلګه دئ او کله چې دوی په خپل ښوونکي کې تناقض ګوري، د هغه په وینا شک کوي او په دې توګه د ده د علم ارزښت له منځه ځي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۱۴ مخ)

**۲۰- له بدو او پوچو الفاظو/ خبرو څخه ډډه کول**

په ښوونه او روزنه کې د نېکو او ښو خبرو/ الفاظو د ویلو ترڅنګ له بدو او پوچو خبرو څخه ډډه کول هم یو لازمي امر دئ. بدې خبرې، ښکنځل او په نورو ملنډې وهل هغه ناوړه کړني او خبرې دي چې هر مسلمان، په ځانګړې ډول ښوونکی باید ځان ځني وساتي، ځکه دا هغه څه دي چې د نفرت، کرکې او آن شخړو د رامنځ ته کیدو لامل کیږي. دا چې ښوونکی د بیلګې او نمونې په مقام کې دئ او خلک د ده پر پله قدم ږدي، نو که دغه ناوړه صفات پکښې پیدا سي، دا یو ستر افت او غمیزه ده؛ ځکه زده کوونکی له خپل ښوونکي څخه اغیزمنیږي او بیا د هغه په اخلاقو او خویونو کې هم دغه ناوړه صفات را منځ ته کیږي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۱۸ – ۱۱۹ مخونه)

د اسلام مبارک دین دغه ډول ناوړه کړني او خبرې حرامې کړې دي. الله ﷻ فرمايي: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِّن قَوْمٍ ... وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ وَمَن لَّمْ يَتُبْ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ".﴿الحجرات: ۱۱﴾ ژباړه: ای مؤمنانو! ټوکې او سپکاوی دې نه کوي هيڅ يو قوم له تاسي څخه په بل قوم باندي... او مه عيب جويي کوئ، بعضي ستاسو د بعضي نورو، ځکه چې بيا ستاسو عيب جويي هم کيږي (چې دا په حقيقت کې د ځان عيب لټونه ده)، او مه غواړئ تاسي يو تر بل په بد نومونو او القابو سره. بد دي دا درې نومونه د (سخريې، تلمز، تنابز) له جهته د فاسقې وروسته له ايمان درلودلو څخه بِردي؛ نو او هغه چې توبه يې ونه ايستله؛ نو دغه کسان همدوی دي ظالمان (پر ځانونو خپلو).(الزحيلي، ۱۴۱۸ق. ۲۵۲ مخ)

الله ﷻ په دې مبارک آيت کې مؤمنانو ته يو شمير ټولنيز آداب بيانوي چې په سر کې يې يو پر بل ملنډې او يو د بل سپکول راغلي، دغه ټکي په صراحت سره نارينه وو او بيا ښځو ته بيان سوي دي. همداسي دا فعل د دې لپاره حرام سوی چې ښايي په ملنډو باندي نيول سوي اشخاص له نورو غوره وي. په دې ايت کې بل لطافت دا پروت دئ چې د ښځو لپاره ځانګړی حکم سوی، ولو که په نورو احکامو کې نارينه وو ته خطاب ميرمنو ته هم شامليږي، چې دا د دې حکم پر اهميت دلالت کوي. په دې مبارک آيت کې د "وَلَا تَلْمِزُوا أَنفُسَكُمْ" جملې مفهوم دا خبره افاده کوي، چې مؤمنان نه بايد يو د بل عيب بيان کړي؛ ځکه دا داسي ده، لکه څوک چې خپل عيب بيانوي او د ملنډو او تلميذ فرق بيا دا دئ چې ملنډې او سخريه په داسي توګه وي، چې مجلس د دغه عيب له امله وخاندي؛ مګر تلميذ په داسي توګه وي، چې خلکو ته د شخص عيب په ګوته سي، برابره ده، چې دا د نورو د خندولو لپاره وي او که د بلې موخې لپاره.

رسول الله ﷺ چې لومړنی ښوونکی وو، په هکله يې راځي: "لَمْ يَكُنِ النبيُّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ سَبَّابًا، ولَا فَحَّاشًا، ولَا لَعَّانًا، كانَ يقولُ لأحَدِنَا عِنْدَ المَعْتِبَةِ: ما له تَرِبَ جَبِينُهُ".(صحيح البخاري، ۶۰۳۱ حديث) ژباړه: رسول الله ﷺ هيڅ کله هم بدکار، لعنت ويونکی او ښکنځل کوونکی نه و، د يو چا د ملامتې په غبرګون کې به يې دا ويل: ده لره څه دي؟ د ده پزه دې خړه سي. ځکه يې نو خپل ټول اُمت په ځانګړې ډول ښوونکي له ملنډو، استهزا لعنت ويلو او ښکنځل کولو څخه په جداً منع کړي دي او فرمايي: "بِحسْبِ امْرِئٍ من الشَّرِّ أنْ يَحقِرَ أخاهُ المسلِمَ، كلُّ المسلِمِ على المسلِمِ حرامٌ، دمُهُ، ومالُهُ، وعِرضُهُ".(صحيح البخاري، ۶۰۶۴ او صحيح مسلم، ۲۵۶۴ حديث) ژباړه: مسلمان ته همدا شر

بس دئ چې د خپل وړوکي سپکوالی کوي، په هر مسلمان د بل پر وینه، مال او ناموس تېری حرام دئ. په یو بل حدیث کې بیا داسې فرمایلي: "سِبابُ المسلمِ فسوقٌ، وقِتالُه كفرٌ".(النسائي، ۴۱۲۳ حدیث) ژباړه: مسلمان ته ښکنځل کول فسق او وژنه یې کفر دئ.

د اسلام د مبارک دین دریځ د بدو او پچو خبرو څخه د ډېږي کولو په هکله دومره جدي دئ چې آن کفارو ته یې هم ښکنځل کول هم بد ګڼلي دي. رسول الله ﷺ د عکرمه بن ابي جهل په اړه فرمایي: "يأتيكُم عِكرِمةُ بنُ أبي جَهْلٍ مؤمِنًا مُهاجرًا، فلا تسبُّوا أباهُ، فإنَّ سبَّ الميِّتِ يؤذي الحيَّ، ولا يبلغُ الميِّتَ".(الواقدي، ۱۴۰۹ق. ۲ ج، ۸۵۱ مخ) ژباړه: تاسي ته به عکرمه بن ابي جهل مؤمن او مهاجر راسي، نو د هغه پلار ته ښکنځل مه کوئ؛ ځکه ښکنځل ژوندیو ته زیان رسوي او مړو ته یې نه رسوي. بناءً، پر ښوونکي لازمه ده چې د بدو او پوچو خبرو له ویلو څخه ډډه وکړي؛ ځکه رسول الله ﷺ د مؤمن په صفاتو کې فرمایي: "ليس المُؤمنُ بالطَّعّانِ ولا اللَّعّانِ ولا الفاحشِ ولا البَذيءِ".(سنن الترمذی، ۱۹۷۷ حدیث) ژباړه: مؤمن طعان (د خلکو په ناموس کې) بد ویونکي، غیبت کوونکي، پر نورو لعنت ویونکي او د بدو، پوچو او بې ځایه خبرو ویونکي نه وي. له پورتنیو ټولو مبارکو لاربښوونو څخه دا پایله لاسته راځي چې ښوونکی باید خپل ژبه په کنټرول کې ولري، هیڅکله باید پوچ الفاظ، بې ځایه خبرې، لعنت، ښکنځل او یا دې ته ورته ویناوې چې د ده شخصیت له منځه وړي یا یې کمزوری کوي و نه وایي؛ ځکه په دې سره له یوه لوري د مقابل لوري (زده کوونکي یا نورو خلکو) شخصیت تجریح کیږي او له بله لوري د ښوونکي د پوهې او د ده د درناوي اغېز له منځه ځي او په وړاندې یې کینه، بغض او دښمني را منځ ته کیږي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۱۸ – ۱۲۲ مخونه).

### ۲۱- له زده کوونکو سره وخت پر وخت خوش طبیعتي کول

له شک پرته نورو ته پوهه او علم رسول یوه درنه کړنه ده، ځکه علم د عقلي او نقلي پدیدو پر بیانولو سربېره یو وچ او معقد کار هم دئ چې امله یې تر یو څه وخت وروسته زده کوونکي له ستړیا او کسالت سره مخ کیږي او په دې ډول د معلوماتو د جذب کچه کمه او له سستیا سره مخ کیږي. له همدې امله هر ښوونکي ته اړینه ده چې دغه ستړیا او کسالت په خوش طبیعتی او مشروع ټوکو کول سره لیري کړي.( ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۲۲ مخ) امام نووي رحمه الله په (الأذكار – کتاب) کې وایي: له هغو ټوکو منع سوې ده چې پکښې افراط او زیاتوالی شتون ولري، یا تداوم

پر تـرسره سي؛ ځکه دغه ټوکي د خنـدا لامل کيږي او بيا د زړه د سختۍ سبب ګرځي چي له امله يې انسان د الله ﷻ له يادون او د ديـن پـه چـارو کي لـه محروميت سره مخ کيږي. سربېره پر دې دغه کار د نورو د اذيت لامل هم کيږي چي له يوه لوري د حسد او کينې را منځ ته کولو او له بله لوري د انسان وقار او هيبت هم له منځه وړي.(النووي، ١۴١۴ق. ٣٢٦ مخ).

رسول الله ﷺ به له خپلو اصحابو کرامو سره ټوکي او خوش طبيعتي کوله؛ خو په هيڅ جمله او کلمه کي يې دروغ او عبثيات نه و؛ بلکي له دې لاري يې هغوی ته ښه او غوره ښوونه ورکوله. مثلاً: يوه انصاري بوډۍ رسول الله ﷺ ته راغله او ورته وايي: يا رسول الله ﷺ! ماته د مغفرت دعاء وکړه، هغه ورته وفرمايل: أنَّ امرأةً عجوزًا جاءَتْهُ تقولُ لَهُ: يا رسولَ اللهِ ادعُ اللهَ لي أنْ يدْخلَني الجنةَ فقال لَها: "يا أمَّ فلانٍ إنَّ الجنَّةَ لا يدخلُها عجوزٌ". ژباړه: ائ د فلاني موري! ته نه يې خبره چي جنت ته بوډۍ نه ننـوځي، نو هغې په زوره وژړل، رسول الله ﷺ وخندل او ورته يې وفرمايل: ته به په هغه ورځ بـوډۍ و نه اوسې، ايا تا د الله تعالی دا وينا نه ده اوريدلې چي فرمايي: "إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً، فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا، عُرُبًا أَتْرَابًا".﴿الواقعة: ٣۵،٣٦، ٣٧﴾ ژباړه: بيشکه مونږ نوي پيدا کړي دي دغه حورې په يوه ښـه پيدا کولو سره، نو ګرځولي مو دي دوی بکري (پېغلي) عاشقاني (پر جنتيانو خاوندانو خپلو) همزولي.(الترمذي، ، ١۴١٣ق. ١۴٣ مخ).

د ښووني او روزني د پوهانو په آند: نرمي ټوکي انسان ته استراحت او دمـه ورکوي او هغه دروندوالی او کسالت چي په انسان کي را منځ ته سوی، له منځه وړي؛ ځکه انساني ژوند معمولا لـه ستړيا او سختيو څخه خالي نه وي، په دې توګه نرمي ټوکي د دغو ستړياوو نيونه او اغېز تر ډېره حده کموي. دا يو ثابت حقيقت دئ؛ يو انسان چي د تبسم، ورين تندي او خـوش طبيعتۍ په وسيله څه زده کوي، په هيڅ صورت يې په جديت او تروش مخ نه سي زده کولای.(ظهير، ١۴٠١ل. ١٢٣ مخ). نو پر ښوونکي لازمه ده چي خوش طبيعتي او نرمي ټوکي وکړي، خو هيڅ کله بايد دروغ و نه وايي او نه هم په ټوکو کي دومره افراط او زياتوالی وکړي چي له ډېري خندا سره مل وي. په پای کي ويلای سو هغه ټوکي چي له رښتيا سره مل وي، د ستړيا د لېري کيدو سبب کيږي، ذهن ارامولي او د هغې اوږدې ستړيا مخه نيسي، چي زده کوونکو او ښوونکو ته د درس د دوام له امله رسېدلې ده، له دې سره اذهان هم تېزيږي او د نويو او ډېرو شيانو د ذخيره کولو وړتيا ترلاسه کوي.(ظهير، ١۴٠١ل. ١٢٦ مخ).

## ۲۲- تر خبرو او وینا وړاندې په کړنه او عمل تعلیم ورکول

کامیاب ښوونکی او روزونکی هغه دئ چې په خپلو کړنو/ افعالو زده کوونکو ته ښوونه او روزنه ورکړي. له سپیڅلي سیرت څخه واضح ښکاري چې کله به رسول الله ﷺ د یو څه د کولو یا نه کولو امر کاوه لومړی به یې پر ځان عملي کاوه، ځکه نو الله ﷻ د هغه سپېڅلی شخصیت مسلمانانو ته د یو نمونې په توګه وړاندې کوي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۲۶ مخ) او فرمايي: "لَّقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ ..." .﴿الأحزاب: ۲۱﴾ژباړه: په تحقیق سره رسول الله ﷺ ستاسې د ژوند د تګلارې لپاره غوره نمونه ده. له شک پرته په فعل او کړنې ښوونه ورکول پر نفس او زړه ښې اغېزې شیندي او دا کار د فهم او حفظ لپاره ډېر مرسته کوونکی ثابتیږي، همدا راز، د دې لامل کیږي چې انسانان د نوموړي شخص اقتدا او پیروي وکړي. یعني؛کړنه تر وینا او خبرو ډېره اغېزمنه او فطري د تعلیم لار ده، له همدې امله د اسلام سپیڅلي پیغمبر ﷺ دغه لاره غوره کړې وه.(العسقلاني، ۱۴۱۵ق. الإصابة في تمييز الصحابة، ٦٣٧ مخ)

رسول الله ﷺ خپلو صحابه کرامو او خلکو ته تر خبرو او بیان مخکې په فعل او کړنې سره ښوونه کول. لکه؛ سلیمان بن بریدة بن الحصیب الاسلمي او هغه له خپل پلار څخه روایت کوي چې له رسول الله ﷺ څخه یو تن د لمانځه د وخت په اړه وپوښتل، هغه ورته وفرمایل: دا دوه ورځې له مونږ سره لمونځونه وکړه، هغه هم همداسې وکړل، وروسته یې وفرمایل: "أينَ السَّائلُ عن وقتِ الصَّلاةِ؟". یعني د لمانځه د وخت پوښتنه کوونکی چیری دئ؟ هغه وویل: زه یم ائ د الله رسول ﷺ! هغه بیا وفرمایل: "وقتُ صلاتِكم بينَ ما رأيتُ".(سنن ابن ماجه، ۵۴۷ حدیث) یعني؛ د لمانځه وختونه مو د دې دوو وختونو ترمنځ دي کوم چې تا ولیدل. امام نووي رحمه الله وايي: پورتنی مبارک حدیث پر دې دلالت کوي چې په کړنه او فعل ښوونه ورکول ډېره روښانه کوونکې وي، نو ښوونکی باید لومړی عمل او بیا بیان وکړي، ځکه په کړنه او فعل ښوونه کول تر وینا او بیان ډېر اغېزمنه وي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۲۶ – ۱۳۱ مخونه)

## ۲۳- په ښوونه کې د دوستۍ د لهجې کارول

له شک پرته په ښوونه کې د دوستۍ لهجه کارول پر زده کړه ځانګړې اغېز لري او هغه ښوونکی چې پر خپلو زده کوونکو مهربان او مشفق وي او د هغو د خوشحالولو لپاره هڅه کوي، دا ټول له علم او پوهې سره د مینې علامې دي. څوک چې له دغو ځانګړنو څخه برخمن نه وي، نه سي

کولای چې د یو بریالي ښوونکي په توګه را څرګند سي. رسول الله ﷺ د بشریت په منځ کې تر ټولو مهربان او مشفق شخصیت و، هغه مبارك به په هر څه کې د خلکو احوال او نفسیات په پام کې نیول.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۳۱ مخ) او فرمایي:" إِنَّ الرِّفْقَ لا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زانَهُ، ولا يُنْزَعُ مِن شَيْءٍ إِلَّا شانَهُ".(صحیح مسلم، ۲۵۹۴ حدیث) ژباړه: نرمي په یو شي کې نه وي، مګر دا چې هغه شي ته وزن ورکوي او له کوم کار څخه چې ووځي، هغه سپکیږي. همدا لامل وو چې رسول الله ﷺ به په هر څه، په ځانګړي ډول په ښوونه او روزنه کې نرمي لټوله او په خوښۍ به یې ترسره کاوه.

اسلام په ښوونه او روزنه کې پر نرمۍ ټینګار کوي او ښوونکي ته د دې سپارښتنه کوي چې له زده کوونکو سره په نرمۍ او محبت چلند وکړي؛ ځکه ښوونکی د پلار حیثیت لري او پلار باید په لطافت او دوستۍ له خپل اولاد سره پرمخ لاړ سي.( ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۳۲ مخ) الله ﷻ خپل ویاړلي رسول ﷺ په نرمۍ او مهربانۍ توصیف کړئ او فرمایي: "لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ".﴿التوبة: ۱۲۸﴾ ژباړه: خامخا په تحقیق راغلی دئ تاسي ته یو رسول لـه جنسه ستاسي چې ډیر سخت درونـد دئ پر ده باندي هغه کار چې تاسي تکلیـف مـومئ (لـه هـغـه)، ډیر حرصناك دئ په (هدایت) ستاسي، خاص پر مؤمنانو باندي نهایت شفیق او ډېر مهربان دئ. او همداراز په خپله فرمایي: "إنما أنا لكم مثل الوالد لولده، أعلمكم".(سنن ابن ماجة، ۴۱۳ حدیث) ژباړه: زه تاسي ته داسي یم لکه د اولادونو لپاره پلار. ښوونکی باید د هغه پلار په څېر چې د خپلو اولادونو په زړونو کې مینه او محبت کري، مسؤلیت ترسره کړي. الله ﷻ په قرآن کریم کې و رسول الله ﷺ ته فرمایي: "فَبِمَا رَحْمَةٍ مِّنَ اللَّهِ لِنتَ لَهُمْ وَلَوْ كُنتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ ...".﴿آل عمران: ۱۵۹﴾ ژباړه: نو په سبب د رحمت د الله ﷻ نرمي کوې ته دوی ته، او که وې ته بد خویه او سخت زړی، نو خامخا به تار پـه تـار سوي وو (اصحاب) له چاپېره ستا څخه، نو عفوه وکړه دوی ته او د الله ﷻ مغفرت وغواړه دوی ته ... . رسول الله ﷺ ښوونکو ته د دې لارښونه کوي چې بایـد له خپلو زده کوونکو سره په ورین تندي، خندانه رویه او خوښۍ مخامخ او هغـوی تـه پـه مینه ښه راغلاست ووایي، ترڅو هغه وحشت، ډار او عقده چې د علم او یـا لـه ښـوونکي څخه یې لري، له منځه لاړه سي او دا هغه څه وه چې د اسلام ستر پیغمبر ﷺ او تر هغه وروسته علماوو ترسره کول. لکه: له صفوان بن عسال المرادي رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسـول الله ﷺ ته زه په داسي حال کې راغلم چې هغه په

مسجد کې په یوې جامې (بالبنت غوندې ي) تکیه کړې وه، ما ورته وویل: ای د الله رسول ﷺ! زه علم غوښتو ته راغلی یم، هغه وفرمایل: "مرحبًا بطالبِ العِلْمِ إنَّ طالبَ العِلْمِ لتحُفُّهُ الملائكةُ وتَظُلُّهُ بأجنحتِها ثم يركبُ بعضُهم بعضًا حتى يبلغوا السماءَ الدنيا من حُبِّهِمْ لما يطلبُ ... ".(الطبراني، ۱۴۱۵ق. ۸ ج، ۵۴ مخ) ژباړه: علم غوښتونکي ته دې ښه راغلاست وي، د علم زده کوونکي ملائکې په خپلو وزرونو کې رانغاړي، بیا یو بل سره یو ځای کیږي، تر دې چې د دنیا اسمان تـه ورسیږي او د ده له غوښتني سره مینه کوي. امام ماوردي رحمه الله وايي: ښوونکی باید له خپلو زده کوونکو سره تشدد او تېزی څخه کار وا نه خلي او نه هم په نویو پیلوونکو زده کوونکو ملنډې ووهي؛ ځکه هغوی د ده دعوت، تشویق او ترغیب ته ډېره اړتیا لري.(الماوردي، ۱۹۸۶م. ۸۴ مخ).

بناءً، ښوونکو ته لازمه ده چې له زده کوونکو سره ښه چلنـد تـرسره کړي، پر هغوی مهربانه و اوسي؛ ځکه زده کوونکي پر ښوونکي د صحبت، مینې او له هغوی سره په ورین تنـدي د مخامخ کیدو حق لري. ښوونکی باید د مینې او محبـت فضا رامنځ ته کړي او پـه ښـو نومونـو خـپـل زده کوونکي راوبلي، هغوی کې باید د احترام شعور پیدا کړي او تل یې د خوشحالۍ او خوښۍ خواته سوق کړي. ځکه په ښوونه کې د دوستۍ او عطوفـت د لهـجې کارونه پر زده کوونکو ځانګړی اغېز لري، هغـوی علم او پوهې ته تشویقوي او په دې توګه د علم او ښوونکي په وړاندې هغه ډار او وېره لـه منځه ځي چې ډېری زده کوونکي ورسره مخ دي. دغه لهجه کولای سي چې په دواړو لوریو کې اخـلاص رامنځ ته او د علم او پوهې ثمره څو برابره زیاته کړي.(ظهیر، ۱۴۰۱ل. ۱۳۱ – ۱۳۵ مخونه)

**۲۴- په ښوونه کې د اسانۍ مراعتول**

د ښوونکي له سترو ځانګړنو او ادابو څخه یو دا هم دئ چې د ښووني پر مهال باید د زده کوونکو نفسیات او حالات په پام کې ونیسي او په تدریس کې لـه اسانه درسي مېتودونو څخه کار واخلي، ځکه هغه ګټه چې د اسانۍ په مراعت لاسته راځي، هیڅ کله په سختۍ سره لاسته راتلای نه سي. د ښووني او روزني پوهـان پـه ښـوونه کې د اسانۍ ترویج او مراعـت د پوهې راز او کیلي ګڼي. (مراد، ۲۰۰۱م. ۲۶۱- ۲۶۲ مخونه) د ښوونکي پر اوږو ستر مسؤلیت پروت دئ، نو ور ته په کار نه ده چې له تبسم او خندا څخه ځان وساتي او یا خپل مخاطبین په تنګسیا او حرج کې ونیسي؛ بلکې ورته په کار ده چې د ښېرې پرځای مینه او محبت خپور کړي. له همدې امله رسول الله ﷺ په

روزنه او ښوونه کې تل د اسانۍ او نرمۍ امر کړی او خپله یې هم په عملي توګه دا نرمي او آساني ثابته کړې ده او فرمايي: "علِّموا ولا تعنفوا، فإنَّ المعلِّمَ خيرٌ من المعنِّفِ".(الطيالسي، ۱۴۱۹ق. ۴ ج، ۲۶۹ مخ) ژباړه: ښوونه ورکړئ او سختي مه کوئ؛ ځکه ښوونکي تر سختۍ کوونکو غوره دئ. ښوونکی اړ دئ چې تل د اسانۍ روحيه په پام کې ونيسي او له سختۍ، تشدد او نفرت څخه باید لرېوالی غوره کړي، يعني؛ ښوونکی باید مبشر او زیری ورکوونکی و اوسي. دا د رسول الله ﷺ هغه تلپاته لارښوونه وه چې خپلو هغو اصحابو ته به یې کوله، کوم چې به یې د ښوونکو په توګه لېږي سيمو ته لیږل. مثلاً: معاذ بن جبل او ابو موسی اشعري رضي الله عنهما یمن ته د هغه مبارک لیږل سوي ښوونکي وو، دوی ته په وصیت کې وايي: "بَشِّرا وَيَسِّرا وَعَلِّما وَلَا تُنَفِّرا وَتَطَاوَعَا".(صحيح ابن حبان، ۵۳۷۳، حدیث) ژباړه: اساني کوئ او سختي مه کوئ، زیري ورکوونکي او خوشحالي راوستونکي اوسئ، نفرت کوونکی مه اوسئ، يو تر بل مينه کوونکي اوسئ او سره اختلاف مه کوئ. د نبوي سنتو له لارښوونو څخه معلوميږي چې رسول الله ﷺ به په هر کار او په ځانګړي ډول ښوونه کې چې د ده اصلي دنده وه، اساني پرمخ بيوله. الله ﷻ فرمايي: "يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ..." .﴿البقرة: ۱۸۵﴾. ژباړه: الله ﷻ پر تاسي اسانتيا راوستل غواړي، سختي راوستل نه غواړي.(ظهير، ۱۴۰۱ل. ۱۳۸ – ۱۳۹ مخونه). بناءً، نرمي او اساني په تعليم کې اړينه مسئله ده او په ځانګړي ډول کله چې زده کوونکي نوي او پيلونکي وي. ښوونکی که د چا خطا او غلطي سمول غواړي، نو باید له غوره اسلوب، چلند او ښې رويې څخه کار واخلي، ځکه هغه اغېز چې په اسانۍ کې نغښتی دئ، هيڅ کله هم په سختۍ او تشدد لاسته راتلای نه سي.

## نتيجه او مناقشه

د دې علمي او څېړنيزي ليکني په پای کې ويلای سو هغه پوښتني چې په اسلام کې د ښوونکي (استاذ) د اخلاقي او سلوکي صفاتو، په اسلام کې د استاذۍ د سپېڅلي مسلک د موقف د لوړوالي او ښوونکي د رول او مقام اړوند زموږ سره موجودي وې، د دې ليکني په مرسته واضح سوه چې اسلام د ښوونکي (استاذ) د اخلاقي او سلوکي صفاتو په هکله بشپړ او واضح احکام لري. د اسلام په ارزښتناکه نظام کې ښوونه او روزنه د نبوي رسالت له بنسټيزو مقاصدو څخه شمېرل کيږي، او ښوونکی د دې الهي مأموريت د اجراء يوه محوري څېره ده. کله چې قرآن کريم د رسول الله ﷺ د رسالت ذکر کوي، نو د تزکيې، تعليم، او حکمت زده‌کړې درې ستر هدفونه ورسره

ترڅ‌ي. دا درې واړه د ښوونې او روزنې تر ټولو ژور، روحي، او ټولنیز بُعدونه دي، چې د ښوونکي مسؤلیت نه یوازې علمي، بلکې اخلاقي او معنوي اړخونه هم رانغاړي. د ښوونکي لپاره لومړۍ اړتیا اخلاص او ایماني تقوا ده. کله چې نیت یوازې د الله ﷻ رضا وي، نو علم هم مؤثر، روزنه هم اغېزناکه، او تربیه هم پایداره وي. عن عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: "إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى ..." .(صحيح البخاري، ۶۵۵۳ حديث). دا هغه اصل دی چې د ښوونې هره هڅه باید وربانديې ولاړه وي. الله ﷻ فرمايي: "وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ ..." .﴿البينة: ۵﴾. چې ښوونکي ته یادونه کوي، علم که د الله ﷻ لپاره نه وي، نو دا علم د آخرت لپاره نه، بلکې د دنیا د فریب لپاره شمېرل کېږي. همداراز، علمي اهلیت او مسلکي تسلط د ښوونکي شخصیت بله اساسي ستنه ده. یو ښوونکی باید د خپل مضمون پر مبادیاتو، اصولو، او منابعو پوره تسلط ولري، ځکه دا علم د مسؤولیت په معنا دی، نه یوازې د معلوماتو انتقال. چې دا د ښوونکي لپاره یوه روحي هڅونه هم ده او یوه علمي ذمه واري هم. همداراز، عبدالله ابن عباس رضي الله عنهم دا حقیقت بیانوي چې علم بې له زحمه نه تر لاسه کېږي، نو یو ښوونکی باید د دوامدار علمي رشد هڅه وکړي. د ښوونکي اخلاق، کردار، او تعامل د تدریس تر کتاب ډېر اغېزناک وي. رسول الله ﷺ د اعلیٰ اخلاقو ترټولو ستر ممثل وو: "وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ" ﴿القلم: ٤﴾ د ښوونکي کردار د یوه ژوندي درس حیثیت لري. که ښوونکی صادق، بردبار، متواضع، او د تقوا خاوند وي، نو شاګرد به یوازې مفاهیم نه، بلکې شخصیت هم ترې زده کړي. همدا لامل ده چې رسول الله ﷺ د ښوونې تر څنګ د روزنې او سیرت جوړونې هم پر بنسټ کار کاوه. د صبر ارزښت په ښوونه کې دومره لوړ دی، چې بې له صبره ښوونه ممکنه نه ده. الله ﷻ فرمائي: "وَاصْبِرْ وَمَا صَبْرُكَ إِلَّا بِاللَّهِ ..." .﴿النحل: ۱۲۷﴾. ښوونکی باید د زده‌کوونکو پر رواني حالت، فهمي کچه، او فکري تفاوتونو پوه وي، او له هر یوه سره د هغه د استعداد مطابق تعامل وکړي. بې‌صبري د شاګرد د زړه دروازه بندوي، خو زغم، تدبیر، او نرم‌مزاجي د ذهنونو کلید ګرځي. په ټوله کې؛ د ښوونکي ټولنیز اثر تر ټولګې ورهاخوا دی. هغه نه یوازې د شاګرد ذهن جوړوي، بلکې د ټولنې د فکري مسیر لارښوونه هم کوي. حدیث شریف دی: "خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ".(صحيح البخاري، ۵۰۲۷ حديث) چې له دې نه څرګندیږي، تر ټولو غوره ښوونکی هغه دی چې د الله ﷻ د کلام علم تر لاسه کړي، او بیا یې نورو ته ورسوي. دا ښوونکی د نبوت د میراث یو حامل وي، ځکه چې حدیث وايي: "الْعُلَمَاءُ

وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ".(الترمذي، ۲۶۸۲ حديث). نو که یو ښوونکی علم، عمل، تقوا، اخلاص، اخلاق، او حکمت سره راټول کړي، نو هغه به د نبوي لړۍ يو فعاله حلقه وي، او د امت اصلاح، د نسلونو جوړونه، او د علمي تمدن بنسټ به ورباندي ودريږي.

نو ويلای سو، چي په اسلام کي د ښوونکي شخصيت او مسؤليت يوازي تر تدريس پوري محدود ندی، بلکي دا يو بشپړ ديني، اخلاقي، او ټولنيز رسالت دی، چي د علم، عمل، تقوا، او بصيرت پر اساس تنظيم سوی دی. د دې ځانګړنو په تحقق سره ښوونکی کولای سي د بشري زړونو اصلاح، د اسلامي تمدن اعاده، او د الله ﷻ رضاء خپل کړي.

## پایله

ښوونه او روزنه د انسان جوړوني او بنسټيزو موخو ته د رسيدني مهم ترينه وسيله ده. که انسان ته ښوونه و نه سي او يا و نه روزل سي، نو په هيڅ صورت به هغو موخو ته و نه رسيږي، د کومو لپاره چي پيدا سوی دئ او د حيواناتو په څېر به يوازي غريزيي پاته سي. ښوونکی د ټولني له افرادو څخه يو فرد دئ چي د هځو پر بنسټ يې په ټولنه کي د ناپوهي ځاي پوهه، د تيارو ځای رڼا، د تعصب او دښمني ځای عدالت، مساوات او ورورګلوي نيسي او بالاخره يوه سالمه او پر مختللې ټولنه تشکيليږي. د اسلام مبارك دين ښوونکي ته خورا لوړ مقام او ارزښت ورکړی دئ. رسول الله ﷺ فرمايي: "... إنما بُعثتُ معلِّمًا...". ژباړه: زه د يو معلم/ ښوونکي په توګه مبعوث سوی يم. د دې ليکني په مرسته واضح سول چي د اسلام مبارك دين د يو مسلمان ښوونکي لپاره ځيني صفات پيش بيني کړي دي. لکه علميت او تخصص، اخلاص، عاجزي، تقوی او پرهېزګاري، صداقت/ رښتينولي او پر ژمنه، ترحم او شفقت، شجاعت او حياء يې، په نېکيو امر او له بديو منع، مسؤليت پذيري، امانتداري او د اسرارو ساتنه، عدالت، انصاف او له هر ډول تبعيض څخه ډډه، استقامت، حوصله، صبر او تلوار نه کول، متقابل درناوی، پاکي، نرمښت او د خپل مسلك حرمت ساتل، حلم، زغم او له غصې څخه پرهېز، نظم او کاري انظباط، د ټولني په عامه پوهاوي کي ونډه اخيستل، له کړنو سره د خبرو تطابق، له بدو او پوچو الفاظو څخه ډډه کول، له زده کوونکو سره وخت پر وخت خوش طبيعتي کول، تر خبرو او وينا وړاندي په کړنه او عمل تعليم ورکول، په ښوونه کي د دوستۍ د لهجې کارول او په ښوونه کي د اسانۍ مراعتول او داسي نور چي يو مسلمان ښوونکی يې بايد په ځان کي پيدا او د ښووني او روزني په دوران کي يې عملي کړي.

**وړانديزونه**

۱- ښوونکی بايد تر هر څه مخکي خپل نيت جوړ او ځان د رسول الله ﷺ پر سنتو برابر کړي.

۲- دا چې ښوونکی هم یو انسان دئ او مخکې تر دې چې ښوونکی سي، هغه په خپله زده کوونکی دئ، نو ورته په کار ده چې د خپل علم ساتنې لپاره قوي او عمیقه مطالعه ولري، پر موجوده علم بسنه و نه کړي او هیڅ کله باید د علم په لاسته راوړلو او پوښتنه کولو کې شرم او حیاء و نه کړي.

۳- ښوونکی باید ځان د لیکنې، ژباړې او څېړنې جوګه کړي؛ څکه هغه کولای سي چې د لیکنو او څېړنو له لوري د علم رازونو او د ټولنې د ستونزو د حل لارو ته ورسیږي.

۴- ښوونکي ته په کار ده چې د علم هیڅ برخه له خلکو پټه نه کړي.

۵- ښوونکی باید سکینه، عاجز، او کمینه وي او له هر راز تکبر او لویې څخه ځان وساتي.

٦- ښوونکي او علماء باید خپل علم او پوهه د شهرت، مال او منصب لاسته راوړلو وسیله و نه ګرځوي.

۷- ښوونکی او عالم باید د زړه او عقیدې پر پاکوالي سربېره د تدریس په وخت کې د ځان او جامو پاکوالی هم رعایت کړي.

۸- ښوونکی باید د علومو یوازې هغه برخه تدریس کړي چې مسلک یې وي او بشپړ حاکمیت پر ولري، پر دې سربېره باید د درس ورکولو لپاره بشپړه اماده ګي ونیسي.

۹- ښوونکی دې ټولګی ته په قهر او غوصه نه داخلیږي، بلکې؛ په ورین تندې دې د زده کوونکو سره مخ سي، تر څو زده کوونکي مطمئن سي چې د ښوونکي جسمي او رواني حالت سم دئ.

۱۰- ښوونکی باید د امکان تر حده په تدریس کې آساني وکړي او ساده مثالونه بیان کړي، ترڅو زده کوونکی ژر په پوه سي او پر دماغ یې فشار او زور وارد نه سي.

۱۱- ښوونکی باید د زده کوونکو سره په چلند او اړیکو کې عدالت رعایت کړي؛ د لوی او کوچني، غني او فقیر، سپین او تور، پاک او ناپاک ترمنځ توپیر و نه کړي.

۱۲- ښوونکی باید له ډېرو ټوکو او خندا څخه جدي ډډه وکړي؛ څکه دا کړنه یې شخصیت ته صدمه رسوي. او په داسې وخت کې باید تدریس هم و نه کړي چې ستړی، بې خوبه، وږی یا تږی وي.

۱۳- ښوونکی باید تدریس په دومره لوړ بږغ و نه کړي چې نور اذیت کړي او نه یې هم باید بږغ دومره کښته وي، چې نه اورېدل کیږي.

۱۴-که ښوونکی د کومې پوښتنې له جوابولو څخه عاجز سو، نو واضح دې و وایې: زه نه پوهیږم.

## اخځلیکونه


1. القرآن الكريم.
2. البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري أبو عبد الله (۱۴۰۷ ق). الجامع الصحيح البخاري. ۱ چاپ، دار الشعب القاهرة.

3. الترمذي، محمد بن عيسى بن سورة (۱۴۱۳ق). الشمائل المحمدية محقق: سيد بن عباس الجليمي، ۱ چاپ، مكة المكرمة، المكتبة التجارية، مصطفى أحمد الباز.
4. ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (ب.ت). سنن ابن ماجه، محقق: محمد فؤاد عبد الباقي، بيروت، دار إحياء الكتب العربية.
5. النيشاپوری، مسلم بن حجاج ابو الحسن القشيري (ب.ت). المسند الصحيح المختصر بنقل العدل عن العدل إلى رسول الله ﷺ (صحيح مسلم)، محقق: محمد فواد عبدالباقی، بيروت، دار احياء التراث العربي.
6. القشيري، عبد الكريم بن هوازن بن عبد الملك (ب.ت). الرسالة القشيرية، محققين: عبد الحليم محمود، محمود بن الشريف، القاهرة، دار المعارف.
7. الجوزية ابن قيم ، محمد بن أبي بكر سعد شمس الدين (۱٤١٦ق). مدارج السالكين بين منازل إياك نعبد وإياك نستعين، ۴ چاپ، محقق: محمد المعتصم بالله البغدادي، بيروت، دار الكتاب العربي.
8. المنذري، عبد العظيم بن عبد القوي بن عبد الله (۱۴۱۷ق). الترغيب والترهيب من الحديث الشريف، اول چاپ، محقق: إبراهيم شمس الدين، بيروت، دار الكتب العلمية.
9. الطبراني، أبو القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير (ب.ت). المعجم الأوسط، محققين: طارق بن عوض الله بن محمد ، عبد المحسن بن إبراهيم الحسيني، القاهرة، دار الحرمين.
10. الزحيلي، وهبة بن مصطفى (۱۴۱۸ق). التفسير المنير في العقيدة والشريعة والمنهج، ۲ چاپ، دمشق، دار الفكر المعاصر.
11. الواقدي، محمد بن عمر بن واقد السهمي الأسلمي (۱۴۰۹ق). المغازي، محقق: مارسدن جونس، ۳ چاپ، بيروت، دار الأعلمي.
12. النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف (۱۴۱۴ق). الأذكار، محقق: عبد القادر الأرنؤوط، بيروت، دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع.
13. العسقلاني، أبو الفضل أحمد بن علي بن محمد بن أحمد بن حجر (۱۴۱۵ق). الإصابة في تمييز الصحابة، محقق: عادل أحمد عبد الموجود وعلى محمد معوض، ۱چاپ، بيروت، دار الكتب العلمية.
14. الطبراني، أبو القاسم سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير (۱۴۱۵ق). المعجم الكبير، محقق: حمدي بن عبد المجيد السلفي، ۲ چاپ، القاهرة، مكتبة ابن تيمية.
15. الماوردي، أبو الحسن على بن محمد بن محمد بن حبيب (۱۹۸۶م). أدب الدنيا والدين، دار مكتبة الحياة.
16. الطيالسي، أبو داود سليمان بن داود بن الجارود (۱۴۱۹ق). مسند أبي داود الطيالسي، محقق: محمد بن عبد المحسن التركي، ۱ چاپ، مصر، دار هجر.
17. أبو حنيفة، النعمان بن ثابت (۱۴۱۸ق). الوصية، محقق: أبو معاذ محمد بن الحي عوينة، ۱ چاپ، بيروت، دار ابن حزم.
18. اڅکزی، عبدالرحمن (۱۴۰۰ل). مسلکي اخلاق او چلند، ملالۍ د لوړو زده کړو مؤسسه –کندهار.
19. أبي داوود، سليمان بن الأشعث بن شداد بن عمرو، الأزدي أبي داود (ب.ت). سنن أبي داود، موقع وزارة الأوقاف المصرية.

20. ژوبل، محمد عثمان (۱۴۰۰ل). فقهي قواعد او مسایل، ژ: امان الله ایمان، مستقبل خپرندویه ټولنه – کابل.
21. شاکري، حمدالله (ب.ت). معلیمینو ته نصیحتونه «نصائح اللمعلمین».
22. صدیقي، ندا محمد (۱۳۹۵ل). د اسلام اخلاقي نظام، عرفان خپرندویه ټولنه – کندهار.
23. صالح بن عبد الله بن حمید او نور (ب.ت). نضرة النعیم في مکارم أخلاق الرسول الکریم، ۲ ج، ۴ چاپ، جدة دار الوسیلة للنشر والتوزیع.
24. ظهیر، جنیدالله (۱۴۰۱ل). د رسول الله ص ښوونیزه تګلاره او د هغې اغېزې، خپرندوی – د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست، چاپ ځای – لایف ستار مطبعه – کابل.
25. أبو غدة، عبد الفتاح (۱۴۲۹ق). الرسول المعلم ﷺ وأسالیبه في التعلیم، ۴ چاپ، بیروت، مکتب المطبوعات الإسلامیة.
26. فاطمي، سید احمد (۱۳۹۷ل). د اسلام اخلاقي نظام، ننګرهار پوهنتون.
27. مراد، یحیی حسن (۲۰۰۱م). أداب العالم والمتعلم عند المفکرین المسلمین القاهرة، جامعة القاهرة.

Social Sceince
AcademicJournal

ليد د ټولنيزو علومو علمي مجله
LSSAJ

# The Ethical and Behavioral Characteristics of a Teacher (Lecturer) in Islam

Abdul Rahman Achakzai[1*] & Abdul Rahman Saeed[2]
Department of Law, Law and Political Science Faculty, Malalay Institute of Higher Education
**Email:** lawyerabdullrahman@gmail.com

## Abstract

Teaching and training are the most essential means of shaping human beings and achieving fundamental goals. If a person is neither educated nor trained, they will never reach the purpose for which they were created, and they will remain merely instinct-driven like animals. A teacher is an individual from society whose efforts replace ignorance with knowledge, darkness with light, and prejudice and hostility with justice, equality, and brotherhood in the community. The noble religion of Islam has granted teachers a high position and value. This article, using a descriptive research design based on library sources, aims to explore the ethical and behavioral characteristics of lecturers (teachers) from the Islamic perspective, to clarify the status and responsibilities of a teacher drawing on the Holy Qur'an and Hadith. As a result, the specific moral and behavioral characteristics prescribed by the blessed religion of Islam for a Lecturer have been clearly outlined, and the teacher is obligated to adopt and implement them. These qualities include: knowledge, expertise, sincerity, humility, piety, honesty, commitment, compassion, kindness, courage, modesty, accountability, trustworthiness, safeguarding secrets, justice, fairness, patience, gentleness, maintaining the dignity of the profession, being consistent in words and actions, engaging students with kindness, and using a friendly, simple approach in instruction, promote goodness and forbidding evil. On the other hand, the lecturer is prohibited from all forms of discrimination, lack of perseverance, impatience, intolerance, haste in work, and disregard for mutual respect, anger and avoiding using bad and futile words. These characteristics are essential for a Muslim teacher (lecturer) to adopt and implement in order to fulfill their noble mission of teaching and guiding others effectively.

**Keywords:** Islam, ethics, behavior, lecturer (teacher), characteristics..

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:2 Issue: 1 Year:1404**